# *Wb/ps/*دار ته هرکلی

< Wb | ps*Wb* > ps > دار ته هرکلی

ثناء چې هر څه وغوارې ربه هغه کېږی شې ټول نظام
د سترګو رپ کې بدلوی شې ټول ژوندي په يوۀ امر
مړۀ کوی شې بيا يې بيا ژوندي له خاورو پاڅوی شې
دا جهان وارہ په بل مخ اړوی شې بيايې څو وارې هم
ښکلی جوړوی شې دا مغرور شاهان له تخت
غورځوی شې

| |
|---|
| ملنګان شاهانه تخته ته رسوی شې |

هر څه هر چاته چې غواړې ورکوی شې هر څه هر چا نه چې اخلې اخستی شې لوی خالق د مخلوقاتو یې خالقه رب د ټولو کایناتو یې خالقه ته جبار ، قهار ، غفار یې لویه ربه یکې یو یې خود مختار یې لویه ربه چې دې خوښه شي هر څه هغه کوې ته

> څوک په غم اخته کړې څوک خوشالوې ته

یو مرغۍ له هوا راولې پنجرې ته بل له اوسپنې پنجرې ازادوې ته چې د عمر ګناه ګار درته په صدق توبه اوباسي توبه یې قبلوې ته نو زه هم یو سوال کوم د سوال نه مخکې هغه دا چې دغه سوال به مې منې ته ته رحمٰن یې هم رحیم یې هم قدیر یې هم علیم یې هم ستار یې هم خبیر یې عجیبه زورور ذات یې پاکه ربه ته القاضی الحاجات یې پاکه ربه زه د ستا یو ډېر عاجز غوندې بنده یم نفس شېطان را

سره مل دی شرمنده یم زه خو نیک نام کوم چې
پرهېزګار یم تا ته پته ده چې څومره ګناهګار یم زه د
کمزوری یم بې وسه یم ناتوان یم زه په بدو عملونو
پښېمان یم تا ته سوال کړم ته بښونکی یې خاونده
ګناه ګار ته تېرېدونکی یې خاونده ته غفور یې ګناه
ګانو نه را تېر شه ډېر رحیم یې سزاګانو نه را تېر شه
رحمٰن ذات یې رحمتونو کې مې غرق کړه تاته خوښ
محبتونو کې مې غرق کړه که ( مفتون ) یم مفتونیت
راځنې واخله بدخویونه بد خصلت راځنې واخله د
نېکیو توان کافي راته عطاء کړه زه معافي غواړم
معافي راته عطاء کړه ژوند سپېڅلی مطابق د
شریعت را یا اللّٰه آخر کې مرګ د شهادت را

پاکه مینه

که دې مینه کې بیمار شم بیمار نه یم که هجران کې
دې ازار شم ازار نه یم

چې یو ځل دې اغیاران په دار محکوم کړم که بیا سل
ځله په دار شم په دار نه یم

که زر واره د جهاد په حقه لار کې ګړنګونو نه ګزار
شم ګزار نه یم

چې د پاک حرم خادم او خاکروب نه شم که د درست
جهان سردار شم سردار نه یم

که ( مفتون ) ددې فاني ژوند طلبګار شم که زه دغه
شان هوښیار شم هوښیار نه یم

۱۳۸۲ مئین شه اول پاک غني سبحان باندې مئین شه
بیا نبي اخر زمان باندې مئین شه

بیا د ژوند د تېرولو قانون زده کړه په قرآن عظيم
الشان باندې مئين شه

چې د خدای او د رسول فرمانبردار وي پس له هغې
په انسان باندې مئين شه

کافرانو نه نفرت او کرکه وکړه مسلمانه مسلمان باندې
مئين شه

شېطانان د استغفار په غشو وله زړه کې ساته په
ايمان باندې مئين شه

مجاهد شه خپلې وينې نذرانه کړه د اللّٰه په هر
فرمان باندې مئين شه

په جامه د شهادت يې ور سينګار کړه حقيقت کې په
خپل ځان باندې مئين شه

دا بدرنګ لښکر ترې وشړه ( مفتونه ) په ښاپسته
افغانستان باندې مئين شه

۱۳۸۲ مجاهد شه

نېک بنده د پاک سبحان شه مجاهد شـه د حضور په
لار روان شه مجاهد شه صــداقـت زده کـړه د
حـضـرتِ صديـق نـه د حضور نور چشمان شه مجاهد
شه عــدالــت راوړه د حــضـرتِ عــمـر بـيـا د مظلومو
نګهبان شه مجاهد شه شــجـاعــت پـېـدا د حـضـرتِ
عـلـي کـړه کافرانو ته طوفان شه مجاهد شه پــه
قرآن عظيم الشان دې وينه توې کړه د وخت حضرتِ
عثمان شه مجاهد شه نـوې نـاوې مـنـتـظـره تر
قـيـامـت کـړه حنظله غوندې قربان شه مجاهد شه
جلېبيب شه هم غازي شه هم شهيد شه د وخت
داسې مسلمان شه مجاهد شه د جهاد د جنګ مېدان
ته په غورځنګ ځه د خالد په شانته ځوان شه مجاهد

شه ظالمانو لره سور اور شه ( مفتونه ) په مظلومو
مهربان شه مجاهد شه

مـقـابــلـه دا ژونـدون دی امتـحان مـقـابــلـه ده

د خپل نفس او شیطان مقابله ده

خامـاخـه به پکې سره ګــلان رژیـــږي

د بهار او د خزان مقابله ده

نتیـجــه به یې سپیڅــلی پسرلــی وي

د نسیم او د طوفان مقابله ده

حـــق خـــبره کـــول دومره اسان نه دي

د تندي او د سندان مقابله ده

اسلامي انقلاب کلک عزمونه غواړي

په يو ځان د ټول جهان مقابله ده

يوې خوا درسته کفري اېټمي نړۍ ده

بلې خوا ته څو ځوانان مقابله ده

بيا د ټول سر زور جهان مخ ته ولاړ دي

نازولي طالبان مقابله ده

د تــاريــخ څــه عــجيبه برخه جوړيـږي

بم په ځان تړي زلميان مقابله ده

دا يـــوازې پــه قــوي ايمان کېدی شي

آن د زمکې او اسمان مقابله ده

په رښتيا که څوک د حورو عاشقان وي

دا يې ګز او دا مېدان مقابله ده

اې ( مفتونه ) تل د هر چا نه ګټلې زمونږ ګران افغانستان مقابله ده

د اوښکو شبنم دا چې ربه بنيادم قېمتي کېږي ستا په فضل و کرم قېمتي کېږي څوک په ظلم او ستم باندې ذليل شي څوک په ظلم او ستم قېمتي کېږي

هغه ياد کړه چې حرم پرې قېمتي دى دا پرېږده چې په حرم قېمتي کېږي تور رانجه د تورو سترګو قېمت نه دى دا د تورو شپو په نم قېمتي کېږي

زما خوار زخمي زخمي زړه به جانانه ستا د شونډو په مرهم قېمتي کېږي رب ته دومره قېمتي يې پيدا کړې چې يې خوښ شې هغه هم قېمتي کېږي

کاشکې زه خاوره د هغه چا د ښپو وی چې یې خاوره په قدم قیمتي کېږي خوشحالي یوه نېشه ده سپکوي دې سړی هر وختې په غم قیمتي کېږي

وخته ښه دېر تهمتونه راته راکړه سپین کاغذ په تور قلم قیمتي کېږي که د زړه ګل قیمتي غواړې ( مفتونه ) دا د اوښکو په شبنم قیمتي کېږي

د ګلونو شونډې

ته چې مرګ په ورین تندي اخستی نه شې هغه مسته زندګي اخستی نه شې

چې د صبر سرمایه در سره نه وي د غم ښار کې
خوشحالي اخستی نه شې

د مجاز مکتب چې نه یې ناکام کړې حقیقت کې
کامیابي اخستی نه شې

ستا په عقل او شعور کې ډېر کمی دی ته لقب د
لېوني اخستی نه شې

چې په تورو زندانونو مئین نه یې بیا نو سپینه ازادي
اخستی نه شې

تا په سرو سترګو صحرا لوستلې نه ده د جنون لویه
هستي اخستی نه شې

ته به څنګه د ګلونو شونډې ښکل کړې چې لاسونو
کې اغزي اخستی نه شې

ستا په سترګو کې تصویر د ښکلا نشته ته له ژونده بدرنګي اخستی نه شې

ځان به مړ ځان به ذلیل، ځان به تباه کړې خو طالب نه مې مستي اخستی نه شې

ته په خپله په پلورلو اموخته یې ته دا سپین او تور پېټکي اخستی نه شې

ای په خپله بادشاهۍ باندې مغروره د ( مفتون ) نه ملنګي اخستی نه شې

د انــار خــوي

بائېد وي په مسلمان کې د ایثار خوي په دې کار کې پکار نه دی د انکار خوي

د کربوړي دا ډارن خوي به دې خوار کا ځوانه ځان
کې کړه پېدا د قبچه مار خوي

د پروتې دا پرېوتی عادت پرېږده که عزت غواړې نو
خپل کړه د چینار خوي

دا د آم او د کېلې خصلت ښه نه دی شا زلميو سره
خوند کا د انار خوي

لکه لومه د چا ښپو ته مه غورځېږه د لیندې په شانته
زده کړه د ګذار خوي

زمري رنګه غیرتي غرئیز خوي کړه د ګیدړ په خبرې
مه کوه د ښار خوي

مچ ته ذهر شي مچېو ته ګبین شي شته په ګران
افغانستان کې د کوکنار خوي

رنګین شال به د وطن په ناوې خور کړم

| |
|---|
| زه لرمه داسې مست بهار بهار خوي |

د جنت له خونده بډک دی مجاهده ستا له بډېرې بې خوبۍ خمار خمار خوي

د سنګر طالب په زړه باندې بیمار کړم ستومانۍ کې یې کاوه بیمار بیمار خوي

ته چې ګنج د ښاپستونو یې جانانه په ( مفتون ) کې به ضرور وي د خامار خوي

۱۳۸۲ تقریباً

جهادي خویونه ړانده خونه یو په اغزو ګلونه،
نه بدلوؤ مونږه په نیمګړې خوشالۍ غمونه،نهٔ
بدلوؤ مونږه غافل نه یو مونږ ذهر او شات ښه پېژنو

په خنداګانو دا خوږۀ دردونه،نۀ بدلوۀ کېدی شي وخت د چاپه لاس راته سزاوې راکړي خو په سروزرو نظرئيو فکرونه ،نۀ بدلوۀ زړونه، له زړونو بدلـوۀ خو په سپـېـڅـلـو زړونـو خو حقيقت کې له مداره زړونه،نۀ بدلوۀ د قسماقسم سېلابونو کې غېږ کې ژوند تېرۀو لکه د خوږ کاڼي يو سپين رنګونه ،نۀ بدلوۀ نور به هم وزوريږو نور بـه هم حـالات بـدل شـي خو دا جنګي او جهادي خويونه ،نۀ بدلوۀ مونږه د رب په مرسته هر وخت بدلوۀ وخـتـونـه خو د وختونو سره خپل ځانونه ،نۀ بدلوۀ مـجـاهـد، وو، مـجـاهـد يـو او مـجاهـد به اوسـو شان او نشان ساتو اوچت نومونه ،نۀ بدلوۀ په غفلت نه، مونږ په غېرت او سادګۍ مئين يو په ټول جهان دا نازولي غرونه،نۀ بدلوۀ سرۀ او سپين پېژنو خو سپينې اوښکې هم پېژنو په تشو کاڼو قېمتي لالونه،نۀ بدلوۀ ( مفتونه ) مونږ په ابدي مست ژوندانۀ مئين يـو په دې نيمګړي ژوند، ژوندي مرګونه،نۀ بدلوۀ

مسته تنده

توره په لاس ښپه په رکاب کې غوارېو تسل د زړونو
په حراب کې غوارېو

د ارادو ټيکري کې بده ښکارې مينه د وينو په حجاب
کې غوارېو

د کوثر خوږ مضمون د جنګ مکتب کې د پرهرونو په
کتاب کې غوارېو

هغه مست جام د شهادت د زمزم په مسته تنده د
شباب کې غوارېو

مونږه بې درده ژوندون نه خوښوو شيبه شيبه ثواب
ثواب کې غوارېو

مزل په څوکو د اغزیو کوو د مه په غیږه د ګلاب کې
غواړو

مونږه په ژوند کې انقلاب نه غواړو مونږ ټول
ژوندون په انقلاب کې غواړو

د هر مظلوم د هرې اوښکې بدل د هر ظالم نه په
حساب کې غواړو

مونږ له ممبره داسې غږ کړی دی جهان سر ټیټی په
محراب کې غواړو

ژوند تباهي ګڼو د ظلم ښار کې نجات د رب نه په
دریاب کې غواړو

دوي ورته جي او په جناب قایل دي مونږه عزت ترې
اجتناب کې غواړو

جهاد، جهاد او الجهاد ( مفتونه ) د ژوندانه په هر یو باب کې غواړو

هدف نه خپل نوم او نهٔ خپل شان زمونږ هدف دی نهٔ دا ګران افغانستان زمونږ هدف دی

د تمام انسانیت غم راسره مل دی هسې نه چې څو کسان زمونږ هدف دی

مونږه تل په عقیده له سره تېر یو په هر وختې کافران زمونږ هدف دی

ملګرتیا د مظلومانو زمونږ کار دی هر حالت کې ظالمان زمونږ هدف دی

د تعصب او قومیت خبره نه ده مرګ د هر یوهٔ شېطان زمونږ هدف دی

هر قانون محکومول په مخ د زمکې حاکمیت د سپین قرآن زمونږ هدف دی

تر یو وخته تر یو حده محدود، نه یو تر قیامته ټول جهان زمونږ هدف دی

اول خاص د رب، رضا غواړو، ( مفتونه ) بیا جنت، حورې، غلمان، زمونږ هدف دی

د سپین غر لمنې ۱۳۸۸

د خطر زنګ

شان شوکت کې د چینار په شانته دنګ یم خوي
خصلت کې د ګلاب د ګل په رنګ یم

شرنګ د تورو زولنو پر ما مئين دی زه مستي لرم د
سپينو تورو شرنګ يم

په غلامو عادتونو عادت نه يم غورځومه د غرور
غرونه غورځنګ يم

زه د مرګ هېبتي سترګو کې ژوند وينم هسې نه چې
په دې خپل ژوند پورې تنګ يم

په سينه د خپلواکۍ ليلیٰ ته پروت يم د باروتو په اور
تور لکه لونګ يم

غېرتي يم ټنګ ټکور سره تضاد يم د غفلت پردې
شلوم د تندر کړنګ يم

د تاريخ اسمان کې ستوری د سبا يم پېژندلی دې تمام
جهان په ننګ يم

په یوه معنا پېغام د خوشحالۍ یم خو په بله معنا بیا دخطر زنګ یم

په مغرورو بادشاهانو مې قلنګ دی زه د سترې زمانې داسې ملنګ یم

پکې راز د مینه ناکې زندګۍ دی په دې هیله د تور جنګ سره په جنګ یم

د ( مفتون ) زړه د ترخو خاطرو کور یم زه د ګران افغانستان په شانته رنګ یم

عجیبه طاقت د غفلت شپې رڼـاګـانو بـانـدې ولـو

خنداګانې ژړاګانو باندې ولو

دسینې په لـمه کـړو باران د اوښـکو

بدرنګي په ښکلا ګانو باندې ولو

دا ثبوت د خپـلـواکـۍ لېلـۍ ته ښایـو

لېوني په صحراګانو باندې ولو

مونږ د ژوند په قدر دومره ښه پوهېږو

چې ځانونه د شمنانو باندې ولو

مـظـلـومـان د تـرحـم څـادر کـې نـغـاړو

| |
|---|
| د غم غشي ظالمانو باندې ولو |

ماشومتوبه نه موجنګي زده کړه عادت ده

| |
|---|
| مونږ مرغان په ماشومانو باندې ولو |

مونږ په ښکلو باندې سرۀ ګلونه شيندو

| |
|---|
| خو بدرنګ خلک بوټانو باندې ولو |

پاک الله داسې عجيب طاقت راکړی

چې شاهان په ملنګانو باندې ولو

یـرغـلـګـر پـه بـاروتـي واسـکـټـو لمانځـو

مېلمانۀ خلک ګلانو باندې ولو

د سروزور، زور پرې ځکه نه رسیږي مونږ ( مفتون )
په دعاګانو باندې ولو

دلمبو لوپټه

ښه نۀ ښکاری د تشو ارادو په لوپټه کې د ژوند
شهزادګۍ خوندکا د جذبو په لوپټه کې

طالب زړه مې پرې ځکه ځان سيزي لکه پتنګ د دين
شمع چې ګوري د لمبو په لوپټه کې

د هيلو سوی باغ ته به راؤړم د حسن ناوی د وينو د
سپېڅلو پسرلو په لوپټه کې

زما پښتون تندي سره د زخم تاج مزه کا د ستا
پښتنې سترګې د رنجو په لوپټه کې

د وخت هوښيار شلولی د وطن د پېغلې شال دی
ګلونه ورته ايښې لېونو په لوپټه کې

جهان ددې يتيمې ماشومګۍ دی پوروړی چې تاؤ ده
د دې څو رنګه ټوټو په لوپټه کې

د درد په تيلې بلې کړه دا مړې ډيوې د اوښکو خوند
واخله د وصال د تورو شپو په لوپټه کې

سر تورو ته ډالۍ دي سينګارونه او سندرې نظر دی د
زندان او زولنو په لوپټه کې

زما شوخه ځوانی په باروتي واسکټ ښه ښکاري د
ستا نازک بدن د ستارو په لوپټه کې

پټکی کږي د ځوانانو د غېرت ترجماني عزت او
ښاېئست وي د جينکو په لوپټه کې

آخ بيا بمبارۍ وشوې بيا به ډېرې پېغلې يوسي د
هيلو جنازې د سلګکو په لوپټه کې

پټ سپين وزېرستان دی د لوګېو په څادر کې دا توره
پنجابګۍ د رنګينو په لوپټه کې

دا څوک چې د پښتون په نوم خېرات غوارېي پردونه
همدوي داغونه کېښول د پښتو په لوپټه کې

( مفتونه ) چې نامه د شهید تله راتله په شونډو حیأ محسوسوله اننګو په لوپټه کې

د سرونو تاوان

د ژوند هر رنګ امتحان سره بلد یو مهاجر یو د هجران سره بلدیو

جنازې لکه ډولۍ په خوشحالۍ وړو د مرګونو د طوفان سره بلدیو

سرې ګلولۍ لکه ږلۍ راته ښکاریږي د بمونو د باران سره بلدیو

پښتنو مېندو روزلي یو سوزنۍ کې له زانګو، نه د زندان سره بلدیو

د عزت بائېلل هېڅ شان زغملی نه شو د سرونو د تاوان سره بلديو

رنګينېو، نهٔ د مينی لېونيان يو د ريښې ريښې ګرېوان سره بلديو

مونږ بچيان د انقلاب، مجاهدين يو د جنګونو د مېدان سره بلديو

مونږ ته پاتې دي کيسې د يرغلونو

| |
|---|
| د دردونو د داستان سره بلديو |

د خندا او د خوښۍ خوارږه مو هېر دي د غمونو تريخ دوران سره بلديو

آزادي مو، ده لېلئ مونږ مجنونان يو دښتو، غرونو، بيابان سره بلديو

پردیتوب مو په بنأ د ښکلي دین دی ګنې ښۀ د ټول جهان سره بلدیو

اې ( مفتونه ) مونږ سپېڅلي بلبلان یو ګلستان افغانستان سره بلدیو

خوب وړی دی

سترې مزدور دی د غرمې سپوري ته خوب وړی دی
که څوک مئین دی د وعدې سپوري ته خوب وړی دی

د حقیقي عشق د آغاز انجام به دغسې وي لکه پتنګ
چې د لمبې سپوري ته خوب وړی دی

په باروتي لمبه شهید ځوان پروت په وینو کې دی که
نه وربل د لوپټې سپوري ته خوب وړی دی

هاغه د ګل نه نازک دنګ زلمی که یاد شي درته د دې
ورېې ماتې جنډې سپوري ته خوب ورې دی

بائېد زمونږ د بېدارۍ جرس همدا ماشوم وي چې د
شهید پلار جنازې سپوري ته خوب ورې دی

حفاظت کاندې ملائېکې د هغه مجاهد چې د جهاد
تودې مورچې سپوري ته خوب ورې دی

د مجاز ستر فکر خاوند یې سلامۍ ته راځي کوم
لېونی چې د جذبې سپوري ته خوب ورې دی

ړانده ضمیر نه لاس نیوی کوي او لار ترې غواړي چې
کوم احساس د ارادې سپوري ته خوب ورې دی

د دې طالب له ډاره ټول جهان ته خوب نه ورځي چې
د شهیدې مدرسې سپوري ته خوب ورې دی

دا شېطاني فرېبجن شور يې ويښولی نه شي څوک
چې د مينې د پردې سېوري ته خوب وړی دی

په گل مئېن بورا زړگی مې د سينې پنجره کې د سرو
زخمونو د غونچې سېوري ته خوب وړی دی

هغه به ټول عمر په اور کې شبگيري تېروي څوک چې
د ستړې زمانې سېوري ته خوب وړی دی

هغه سپېڅلي توند صوفيان ښائيي له ښاره تللي
رياکار شېخ د مېخانې سېوري ته خوب وړی دی

را ويښوي به د غفلت غېږ کې ويدۀ ذهنونه خيال د (
مفتون ) د فلسفې سېوري ته خوب وړی دی

۱۳۸۳ مست احساس توره ته چې سپين ارمان را
باندې وژنې رندوې مې او زبان راباندې وژنې د هوس

په ټېټو سپوره ځان خبر کړه هېڅ کړای نه شې هسې
ځان راباندې وژنې

اې فطرته تا چې شان د زمري را کړو خاماخابه
ګیدړان راباندې وژنې لړ شه تم د خپلواکۍ مستې
احساسه هسې ولې غلامان راباندې وژنې

د ایمان جذبې، بې حده مې خوښېږې تل سرزوري
کافران راباندې وژنې د مظلوم فریاده دومره دې
غمجن کړم چې ضرور به ظالمان راباندې وژنې

اې غربي غداره څومره لوی شېطان یې ډالر خوښي
افغانان راباندې وژنې دومره مست حسن لرې
افغانستانه چې ډاکوان د ټول جهان راباندې وژنې

ته چې داسې شاعري کوې ( مفتونه ) مفسد فکره
شاعران راباندې وژنې

زرگري مدرسې ته په لاره برخه لمر چې د غره شاته
پناه یورېله شپې رانه پلو کې رڼا یورېله

تا چې په زخمي شوندو سلګۍ وکړې مانه دې د عمر
خندا یورېله

ټولو کې ممتاز به وي هغه زلمی چا چې سینه سره په
وفا یورېله

ماچې د شپې زړه په اوښکو وتخڼو عرش ته فرشتو
مې دعا یورېله

چا چې په دنیا کې دنیا پرېښوده هغو له دنیا نه دنیا
یورېله

سپین وطن مې هر چا ته تور داغ شولو برخه د
عظمت ترې ملا یورېله

چاچې بدرنګي په کاڼو وویشته هغو په بدل کې ښکلا یوړله

پوی نه شو ( مفتون ) په لېونی ځوانۍ زړ ترې د غمونو بلا یوړله

علي مسجد ۱۳۸۳

اجل

چې په کوم لور نظرونه تاوه وو په مغرورو باندې غرونه تاوه وو

زر او زور او د تور زړو، نه نفرت کړو په سپین زړه کې سپین سپین زړونه تاوه وو

لوی خالق لرو د وخت غلامان، نه یو مونږ د ځان پسې وختونه تاوه وو

جنگ ته ځو په شهادت باندې مئین یو له سرونو
کفنونه تاوه وو

نېکټبائي خو د غلام ژوندون ثبوت دی مونږ خپلواک
کمر بندونه تاوه وو

هر یو ول ئې سم اجل کفر ته ښکاري پټېکي ځکه
ولونه ولونه تاوه وو

فدایان یو ټول جهان رانه ډاریږي له ځانونو، نه بمونه
تاوه وو

ځان زندان ته جوړؤو د ماشومتوب نه په سوزنیو کې
ځانونه تاوه وو

مظلومان سینې ته نیسو ښکلوؤ ئې په ظالمو
ورمېږونه تاوه وو

هغه څوک چې دي غریب ولس ته غله دي په دې
خلکو به لاسونه تاوه وو

چې زمونږه غږ څوک نه اوري غافل وي خاماخه به
پرې غوږونه تاوه وو

مونږ پرې فخر کړو پرې نه ژاړو ( مفتونه ) شهیدانو
نه ګلونه تاوه وو

زیــری

څوک چې نا مه د دهشتګر په کوم قانون راکـوي

په
حقیقت کې اجازه دوي د خپل خون
راکوي

د خـطـر غـېـږ کې د تـريـخـجـنـو خـاطـرو پـه ژبـه

| |
|---|
| حالات<br>خبر د يو سپېڅلي اوښتون راکوي |

خاموش درياب يمه خو بيا مې د زړګي په تل کــې

| |
|---|
| انقلابي<br>طوفان رالوتی راته يون راکوي |

طوفاني شپه کې هئېبتي څرېکې د سپينې برېښنا

| |
|---|
| راته<br>خوږ زېری د خوښۍ د سباوون راکوي |

ځـــان او جــهــان تــرې ځـــارومــه د جــنــت پــه هيـلـه

| |
|---|
| چې<br>كوم جانان جذبه د مينې د جنون راكوي |

د مـــاديـــګـر د لــمـر وړانــګـې د زنــدان پــنـجـرو كـې

| |
|---|
| راته<br>پېغام د ازادۍ د مست ژوندون راكوي |

داړه مــــاران لــــېوان بـــه وژنـــي ګـــيـدړانـــو ســـــره

| |
|---|
| رب، به<br>تالا ترغه رمې ته داسې شپون راكوي |

داســـي پېـغام د زولـنېو هـر يـو شـرنـګ راکـوي

چې اې (

مفتونه ) خدای په خاماخه خلاصون راکوي

بنو زندان – ماذيګر – ١١\٤\٢-٧- د غرغرو غېږ

مـجـاهـد يـم د جـګـړو غــېـږه کــې اوســم

لکه ګل يم د اغزو غېږه کې اوسم

ړانـــده خـــلـک مـــې پـه قــدر نـه پـوهـيـږي

لکه لال يم د ايرو غېږه کې اوسم

ځـــکـــه زړه د خـــزانـــونـــو راتـــــه ډک دی

چې د مستو سپرلو غېږه کې اوسم

پـــه تـــنـــدي مې د توحـــيد کليمه ليک ده

مست پتنګ يم د لمبو غېږه کې اوسم

د ســهـــار ګـــنـــډلي ســتـرګـــې بـه پـرانــيـزم

په دې نيت د تورو شپو غېږه کې اوسم

زه پـــه ســـپـــيـــنـــه ازادۍ بـــانـــدې مـــئين يـــم

زه به تل د زنځیرو غېږه کې اوسم

لـوی الله بـه مـې د مـخ خـولـې زمـزم کـا

زه د ټکندو غرمو غېږه کې اوسم

وخـت لـه سـتـرګـو، نه جدا کړم ارمانجنه

لکه اوښکه د لېمو غېږه کې اوسم

مینه راکړه نا اومېد سیند غاړی ګل یــم

د بلا بلا ځپو غېږه کې اوسم

زه د وخـت هغه جنګي افـغـانـسـتـان يـم

چې مدام د حادثو غېږه کې اوسم

زه ( مـفـتـون ) د جنت مسته غېږه غـوارم

څکه زه د غرغرو غېږه کې اوسم

د عقيدې رشته مونږ د خزان بادونه ، نه يو چې سپرلي ماتوو مونږ نسيمونه يو غوټۍ د سهارګي ماتوو

مونږ مجاهد یو ماتوو مغرور ظالم سرونه مونږ هغه
نه یو چې ازار اخلو زړګي ماتوو

د شهادت جام پسې دومره تږي تږي ګرځو چې ددې
تندې ماتېدو پسې تندي ماتوو

د جينکو په شان په کور او په ګودر کې نه مرو په
سنګرونو دا چينار چينار ځواني ماتوو

د خپلواکۍ احساس مو دومره په مستۍ کې دی چې
غلامان وژنو او بادار ته ئې مستي ماتوو

دا چې د خپلو د پردونه په پرده کې ګرځو نور به د
وينو په بدل دا پابندي ماتوو

مونږه سپېڅلي فدايان د رود نيل په شان يو د وخت
وحشي کفري لښکرې فرعوني ماتوو

د عقیدې په وریښمین تار چې ترلې نه وي ( مفتونه ) مونږ هغه رشته هغه دوستي ماتوو ننگرهار اچین عدلخېل ۱۳۸۷ د حق لاروي مـجـاهـد یـم مـیـنـه زړونــو بـانـدې شیـنـدم

| |
|---|
| خونفررت په نفرتونو باندې شیندم |

د مـظـلـومـو د خــدمـت پـه خــاطــر بــانــدې

| |
|---|
| خاطرې په خطرونو باندې شیندم |

دا خپل ځان ښاپئسته کوم د رب حضـور تـه

خپلې غوښې په بمونو باندې شيندم

حق پرست يمه باطلو ته طوفان يم

هئېبتونه وحشتونو باندې شيندم

د ستومانه مجاهد د مخ خوله يم

د سکون ساه ولسونو باندې شيندم

تورو شپو کې بلوم ډيوې د اوښکو

رڼاګانې تورتمونو باندې شيندم

د شــهــيــد ســپېــڅــلــی ويــنــه يم سپرلی يــم

رنګينی په دښتو غرونو باندې شيندم

پــه ګــودر مــې نــښــې مـه ګوره زلـمـی يــم

زه ځواني په سنګرونو باندې شيندم

مــا مــلـکـونــه پــه هېڅ شان شيندلی نه شي

انقلاب به په ملکونو باندې شیندم

څوک ( مفتونه ) مطمئېن کړم په شعرونو

چا ته مالګه پرهرونو باندې شیندم

ستړی غازي

چې د یتیم نازکې شونډې اسویلي وسپړي د درد په ګوتو مې زخمونه د زړګي وسپړي

په خاورو خړ زخمي بشر د شهید داسې ښکاري لکه چې مست نسیم غوټۍ د سهارګي وسپړي

مشک وعنبر ئې سلامي کا د خولو خوشبو ته چې کمر
بند ملا نه د جنګ سترې غازي وسپړي

سېل ئې کوي د جنت حورې د اسمان فرشتې چې
ګرم جنګ کې طالبان ځوانان پټکي وسپړي

خزان، خزان به شي خزانه ستا بدرنګه څېره د شهید
وینې به سپېڅلي پسرلي وسپړي

د وخت ځوانانو بائېد تاسو خو بیا ذهر وخورئ چې د
سنګر بادونه پېغلو ته پیکي وسپړي

که د زلمیو احساس دغه شان ویدۀ پاتې شي جونې
مجبورې دي چې لاسو، نه بنګړي وسپړي

کامیاب هغه دی چې د مستې زندګۍ دروازه د تورو
غبرګ کې په چیغه د مرګي وسپړي

هلته چې ټول دغلامۍ پړي په غاړه لري

څوک به لاسونو، نه زنځیر د لېوني
وسپړي

پښتنې خپل بچیان روزي د انقلاب لپاره کله ئې وتړي
او کله ترې سوزني وسپړي

پکې به ولولي د ستړي ژوند ترخې خاطرې که هر
څوک راشي او کتاب مې د زړګي وسپړي

( مفتونه ) بیا به دې د حورو سره مینه منم که د
سینې پرهر دې شونډې ګلابي وسپړي

د زړه حرم د خــوښـــــې زخـــم تـــه مــرهــم
ســــاتــمـه

مدام د زړه په جیب کې غم ساتمه

د مـایـوسـۍ جــل مــې وهــلی نـه شــي

| |
|---|
| د مخ خولې لکه زمزم ساتمه |

د طــوفــانـونـو غـېـږ کـې ژوند تـېـروم

| |
|---|
| عزم دغره په شان محکم ساتمه |

راتــه هـېـڅ نـه دي کـړ لـېـچـونه د وخت

| |
|---|
| هدف سپېڅلی او نیت سم ساتمه |

ځــکه مــې تــل تــازه وي ګــل د زړګـي

د ترمو اوښکو پرې شبنم ساتمه

د ازادۍ نــیمـــګــړې نــوم لــپــاره

په زخمي ګوتو کې قلم ساتمه

خـــامـــار تـــه غـــشـــي او لـیـنـده لرمـه

مار او لړم لپاره دم ساتمه

د وخـت کـړو تـور فـکـرو خـلـکو لـره

دا كړه سپينه توره هم ساتمه

د حال كتاب كې د نفاق مضمون ته

عنوان دا تور او خړ طورخم ساتمه

اې د ( مفتون ) طالب، طالبه غمه

په تا آباد د زړه حرم ساتمه

۱۳۸۸ مهربان سيمه

د مرګ مينه

مونږ د ژوند په شان ګڼلی حقیقت مرګ ډېر په مینه
ساتو زړه کې هر ساعت مرګ

بې غېرته زندګي که بادشاهي وي په سل ځل مو
ترېنه خوښ دی د غېرت مرګ

چې له مرګه کوي ډار په ژوند مئين وي هغو خلکو ته
را درمي د ذلت مرګ

چې د حق په سر په اور کې سوی سکور شم ما ته
ښکاري بس همدغه د عزت مرګ

د جهاد سنګر کې خوښ ښوښه ښوښه یم ربه را نکړې
بستر کې د راحت مرګ

یا الله ته خو ( مفتون ) ته ور نصیب کړه په پرهر
پرهر سینه د شهادت مرګ

مسته خاطره

د غــازي جــانـان کـيسـه ئـې مـسـتـه مـسـتـه

| |
|---|
| زنګوې زرېونه نېشه ئې مسته مسته |

دا چـــې ســـېـــورى دې اثـــر لـــري د اېـــټـــم

| |
|---|
| د طالب زلمي شمله ئې مسته مسته |

سپينې تـورې سپينې حورې درته ښکارې

| |
|---|
| د جهاد سپينه جذبه ئې مسته مسته |

چې ته راشې نو د زړه غوټۍ مې ګل کړې

| |
|---|
| د سهار خوږه وږمه ئې مسته مسته |

طــوفــانــي غــېــرږه کې ساتې هــئېبتــونــه

| |
|---|
| د کونړ د سیند څپه یې مسته مسته |

ویښوې چې مېوندي احساسه لــه خوبــه

| |
|---|
| هغه چیغه او ټپه ئې مسته مسته |

د شــهــیــد طــالــب زخمي زخمي سینه ئې

که د سرو ګلو غونچه ئې مسته مسته

چې دردمن زړه ته تسل د(غرق مفتون) ئې

د ژوند هغه خاطره ئې ئې مسته مسته

۱۳۸۵ د مهمندو سیمه د کونړ طرف ارادې

هغه څوک چې زمونږ خاوره زمونږ زر خوري خاماخا به ګذارونه د خنجر خوري

مسلمانه ځان ساته کفري ساحر نه ایمانونه د ډالرو په منتر خوري

بیا راغلي بلاګانې دي د غرب نه زمونږ خلک زمونږ
دښتې زمونږ غر خوري

په نامه د بشر دوست او تروریزم دا مکار پردي حقوق
په دې هنر خوري

خو پوره لا دا ارمان د هیچا نه دی هر یو وږی تل دې
خاوره کې خپل سر خوري

الوتکې راته هېڅ نه دي (مفتونه) ارادې زمونږ اسمان
سره ټکر خوري

۱۳۸٤ ګران وطن خپله سیمه

کله کله

دومره ډېر زيات شي خفګان کله کله چې په ما تنګ شي جهان کله کله

مدام سمسور نه وي ګلزار د ژوندون ورته رادرومي خزان کله کله

دا يو دستور دی چې د حق په لار کې

| |
|---|
| په درا خېژيږي ځوانان کله کله |

د ازادۍ د ژوند سبق ورکوي ملګرو ښه وي زندان کله کله

چې بخت او وخت سره ټکره وخوري ملنګانه شي شاهان کله کله

شي د ملت د افتخار ګلونه دا سربېر لېونيان کله کله

ور سره للمه شي د زړه زرغونه ښۀ وي د اوښکو باران کله کله

افسوس چې وړاندې وی وروستیه عقله کومه دغه ارمان کله کله

مغرور چې نه شې د ځوانۍ په سپرلي خيال کې ساته بوډاګان کله کله

( مفتونه ) زړه ور پورې مه تړه ډېر بې وفا کېږي ياران کله کله

۱۳۸۸ سارخېل آباد

شـعـار د شـهـيـد

مــونږ مــجاهد یو ځـو بـه خــامــاخه پــه لار د شهیــد

| |
|---|
| مونږه خپل<br>شان او کامیابي ګڼو کردار د شهید |

مــونږ تـه پـیـغام دی د خـوښـیـو د سپـیـڅـلي ژوندون

| |
|---|
| څاڅکي د<br>سرو وینو پراته په سپین رخسار د<br>شهید |

مــونږ تــه یو ګل د جـنـت ښـکاري خوشبوي ترې اخــلو

ښکلوو ځکه

په ټټر باندې پرهار د شهید

د دې جـــهان د شـاهـانه ژونـد نه ئـــې غـوره
ګـڼو

د زنکدن

ورېو سلګېو کې دیدار د شهید

یـا بـه غـازیـان شــو او ارزو بـه د یـتـیـم پـوره
کـړو

یا به ورځو

او ختموو به انتظار د شهید

خـــزانــوو هــر وخــت مــونږ ځــکه دا ګـلـونـو ځــوانـۍ

| |
|---|
| چې راولو د<br>هيلو ښار باغ ته بهار د شهيد |

د ژونــدانــه لــحــظــه لــحــظــه بــانــدې فــخــر کــوو

| |
|---|
| د زړه پر<br>پاڼه مو ليکلی دی يادګار د شهيد |

نــه د ډالـــر مــنــتــر ګــونــګــيــان کــړو د ايــټــم لــوګــو

(مفتونه

د شعار باندې په خوله زمونږ دی)

شهید

ننګرهار ۱۳۸٤ لټون ژوند د ژوندون بازار

کې مه لټوه

ګل د خارونو ښار کې مه لټوه

صحرایي خوي لرمه شوخ جنون یم

ما رواجي خمار کې مه لټوه

په ګل زړګي لکه خوشبو پرته وي

مینه اقرار انکار کې مه لټوه

مړاوی ښاېئست نه یم پښتون احساس یـم

ما بازاري رخسار کې مه لټوه

د خــنداګــانــو د مــســتېو طــبېعت

دا دوه د زړه بیمار کې مه لټوه

دار د ســپــېخــلــو لــېونــېو شــان دی

دغه هنر هوښیار کې مه لټوه

د ملنګۍ د ژوندانه خوندونه

په شاهانه در بار کې مه لټوه

د شازلمو نښې سنګر کې ګوره

دا د ګودر په لار کې مه لټوه

بې له خزانه چې ګلان رژوي

نور څه د ژوند ګلزار کې مه لټوه

( مـــفـتـونـه ) شـېـې وريـســې ولـټـوه

( ۱۳۸۶د پېښې غر )
هغه په سپين سهار کې مه لټوه

-

د ښکلو کلی

ډیوه که د اخلاص لرې بې ډاره به راځې د شپې
هئېبتي غېږ نه تر سهاره به راځې

یوه دانه قسمت که دې هم وي د ژوند بازار کې تر
داره به دې یوسې خو، له داره به راځې

څو وار راتګ نه پس د معافۍ وار به دې راشي خو
بیا هم په دې شرط چې څو څو واره به راځې

دا چم د داسې ښکلو دی چې دلته غرور مات دی په
پاک نیت په راځې او په کراره به راځې

زه داسې عاجزي لرم زما په سر سرمسته که زر واره
منکر شي بې اختیاره به راځې

مدام که په ګلونو کې ژوندون د سکون غواړې د ژوند
په دې ازغنه سترې لاره به راځې

اقرار کې مې قرار د ناقرار زړګي ویده دی اې درده
چې راځې نو له انکاره به راځې

په ژوند به درته خبر دی زه درځم خو پس له مرګه
اشنا وکړه وعده چې تر مزاره به راځې

په خپلو وینو سور لکه انار له قندهاره طالبه د اسلام
تر ننګرهاره به راځې

ملنګ د زمانې دی هېڅ توښه ورسره نشته ( مفتون )
ته چې راځې د خدای لپاره به راځې

شاکخ ۱۳۸۲ د فکر باز

د وحـــشت شپـــو تـــه زوال درســـره راوړه

وخته سپین د حق مشال درسره راوړه

چې غـوړونـو کې پـردې دغـفـلـت پرې کا

هغه چیغه د بلال درسره راوړه

زه پــه خــپـل خـلـیـلي عـزم مـطـمـئـن یـم

نمرودي لمبې او تبال درسره راوړه

د ســــهـار بـاده راځــه پــه زانــدانـونـو

د بندي ملګرو حال درسره راوړه

چې ځوانانو ته احساس د غېرت وشي

د شهيدې پېغلې شال درسره راوړه

چې راځي زمونږه کلي ته اختره

يو خوږ زېرى د وصال درسره راوړه

مجاهده دا د حورو فرماېښت دى

په تندي د وينو خال درسره راوړه

جـــهـادي وطــن تــه ځــه د فــکــر بــازه

عزليز مرغه د خيال درسره راوړه

چـې پـرې مينه د دردمـن ( مفتون ) کـرې

ترې په اوښکو لوند دسمال درسره راوړه

( عالم ګودر لره پښتونخوا ) د زړه مکتب پـه دې

سـبـب چــې د ثــواب پـه ټکـي نـه پـوهـيـږي

| |
|---|
| غافلان<br>ځکه د عذاب په ټکي نه پوهيږي |

جاهـلان تـل د خـواهـشاتـو په نـېشه کې ډوب وي

| |
|---|
| دوي<br>د محشر يوم الحساب په ټکي نه پوهيږي |

د سـپـيـن قـرآن د لارويـانـو قـدر څـه پـېـژنـي

| |
|---|
| دا د<br>وخت ځوي خانه خراب په ټکي نه پوهيږي |

خـېـتـه پـرسـت خـلـک رنـدي لـري د عـقـل سـتـرګـې

عمل

يې دی شر او شراب په تکي نه

پوهيږي

هـــغـــه امـــام د نـــجـــات نـــه د تـــبـــاهـــۍ الـــهـــام دی

چې

ځي ممبر او تر محراب په تکي نه

پوهيږي

خـــاونـــد د عـــقـــل او شـــعـــور حـــيـــأ عـــزت

پـــېـــژنـــي

| |
|---|
| ځناور<br>څه کوي حجاب په ټکي نه پوهيږي |

چې د مرګ سترګو کې ژوندون محسوسولی نه شي

| |
|---|
| مجاهد<br>نه دی د شباب په ټکي نه پوهيږي |

د ښـاپېـسـتونـو د سپـېڅـلي بـڼ بـلـبـل بـه نـه شـي

| |
|---|
| چې د<br>پرهر پرهر ګلاب په ټکي نه پوهيږي |

هـغه انـسان د ژونـد اصـلي مـقـصد ته نه رسـيـږي

چې
سوال کوي او د ځواب په ټکي نه پوهيږي

د زړه مکتب کې يې مونږ نه دا خلوو ( مفتونه ) ١٣٨٨ څوک چې د مينې د کتاب په ټکي نه پوهيږي

خواږه سزا

چې په چا لګي دنيا خوږه خوږه

هغه
نه کوي خندا خوږه خوږه

که د مينې د جنون په خوږو پوه شي

درته

ښکاري به صحرا خوږه خوږه

چــې یــو شــرک د زلــفــو حــورې پـه مــخ راکـا

رب

نه غوارم دا سزا خوږه خوږه

چـــې تــرخــې خــاطــرې نــه لـــري پـــه زړه کـــې

ذده

یې کله وي وېنا خوږه خوږه

پـه نــصــیــب بـه ورتـه ذهــر او ذقــوم شـــي

| |
|---|
| که<br>څوک وګڼي ګنا خوږه خوږه |

تــه پــه دې زه پــه هــغــې بــانــدې مــئيــن يــم

| |
|---|
| ما<br>ته هغه تا ته دا خوږه خوږه |

ګــرانــې مــورې زنــدګي مــې شــوه بــې خــونــده

| |
|---|
| راته<br>زر وکړه دعا خوږه خوږه |

کــه دې تـريـخ ژونـدون نـه خـوند اخـلـې (مفتونه)

هره

شپه کوه ژړا خوره خوره

۱۳۸۷ شاکخ علاج روغ دې ناروغه خیالات کړه چې علاج دې وشي

ختم دا خوشې

خواهشات کړه چې علاج دې وشي

د وخت رنځوره طبیبانو پسې مه ګرځېږه

یقین د رب په

شافي ذات کړه چې علاج دې وشي

بې درده خلک په نصیب کې روغه ورځ نه لري

| |
|---|
| ګرانه دردونه<br>زړه کې زیات کړه چې علاج دې وشي |

په رواجي قربانۍ مه تړه اومېد د علاج

| |
|---|
| لړې د تن<br>ویني خېرات کړه چې علاج دې وشي |

د ډار مرض به دې دې ټول جهان ته وشرموي

خپل جهادي
جنګي صفات کړه چې علاج دې وشي

په تشو لپو د زخمي زړه مرهم ډېر مشکل دی

سر په بدل
کې ور سوغات کړه چې علاج دې وشي

د غلامۍ جراثیم ووژنه تبا به دې کړي

بیا را ژوندي
مړه احساسات کړه چې علاج دې وشي

د زړه کـــعـبـه کـړه پــه ایــمـان او پــه یـقـیـن آبـاده

| |
|---|
| ما ت د شکونو<br>لات منات کړه چې علاج دې وشي |

د غـــــریــــبـانــو د اخـــلاص دعـــــا دوا وګــــېــه

| |
|---|
| شیطان در کړی<br>پرهېز مات کړه چې علاج دې وشي |

( غرقـه مفتـونه ) کـه نـجات لـه غـرقېدلو غـوارې

جاري په ژبه
مناجات کړه چې علاج دې وشي

د پرهرونو کتاب

زه مئين ستاد يادونو کتاب وايم ډک له خونده د دردونو کتاب وايم

لکه مړاوی ګل د ژوند نيکړي باغ کې د اجل د خزانونو کتاب وايم

ګرانه زه د يتيمانو د وطن يم تل د سويو فريادونو کتاب وايم

په لمدو سترګو او ماته ماته ژبه د شهيد د ياد ګارونو کتاب وايم

زما ښوله زندګي ښېي ښېي ده زه مدام د پرهرونو کتاب وايم

زه شاګرد د انقلاب د مدرسې يم ډېر په مينه د جنګونو کتاب وايم

زه د حورو عشق کې دومره وارخطا يم فدايي يم د مرګونو کتاب وايم

مجاهد يم سينګار شوې عنا غوارم ځکه تل د سنګرونو کتاب وايم

زه د نورو رنګينېو وږى نه يم زه د وينو د رنګونو کتاب وايم

چې په خيال کې هم بلبل د زړه د بڼ شم د زخمونو د ګلونو کتاب وايم

ازادۍ د ستا د مينې له آثره د زندان او زنځيرونو
کتاب وايم

زه ( مفتون ) اکثر د خپل زړه په مکتب کې د نيګړو
ارمانونو کتاب وايم

۱۳۸٤ سينګار د زولنو حورې منتظرې دې ديدار د
زولنو ته مې ښول ښکلي حېرانه دي سينګار د زولنو ته
مې

شونډې د جانان څه دي ګلاب څه دی غاټول څه دی
ډېر حسن ورکړی رب پرهار د زولنو ته مې

شور د کائېناتو شي خاموش احساس په شور راشي
هر قدم سره مست شرنګهار د زولنو ته مې

دا د وخت تور زړې ظالمان او زورور خلک هېڅ نه دي
که رب کول ګذار د زولنو ته مې

دا له غرور ډکې خو نخورې سپينې او سرې ماڼۍ نه
شي تم کېدی سوي ازار د زولنو ته مې

مړه جذبه ژوندۍ کاندي ويده احساس راويخ کاندي
دا اثر ورکړی رب يادګار د زولنو ته مې

زه خو، ښه په فخر خپل دردمن وار تېروم خو، ته
شې به وار خطا غليمه وار د زولنو ته مې

وه ګرانه ( مفتونه ) ترې پېغام د ازادۍ واوره غوږه
شه په ګونګۍ ژبه اظهار د زولنو ته مې

د وخت ستر ديني عالم د قلم او د توري اتل او
سپېڅلي جهادي رهبر د مولوي محمد يونس خالص
بابا د شعر په انداز. د اهونو طوفان

شـوخـې سـتـرګـې د جـانـان مـړې شـوې دي

که غوټوی دي په خزان مړې شوې دي

خپل ښایست نه خبر نه ئې مجاهده

جینکی دې په ارمان مړې شوې دي

هغو پېغلو ته غافل ځوانان لوګی شه

چې په تورو په مېدان مړې شوې دي

داسې ښکاري چې چا وینه نذرانه کړه

خو شبويانې د رېحان مرېې شوې دي

د جهان په نظر مرۀ افغانستان کې

ارزوګانې د جهان مرېې شوې دي

د جنګ تاب د شيطاني لښکرو نشته

تل په چيغه د اذان مرېې شوې دي

دلته ډېري ککرۍ له غرور ډکې

د آهونو په طوفان مرې شوې دي

وینـه رنـــګ کــړه او قـــلــم ځــلانـــده تـــوره

راشه شمعې د عرفان مرې شوې دي

ســپـین جــنـون دې ژونـدی شـوی دی ( مفتونه )

چې دې اوښکې په ګرېوان مرې شوې دي

تیرا – ۱۳۸۷ د مینې فصل تنکو غوټېو ته نسیم راشه سیلۍ رامه شه د مینې فصل ته باران راشه ږلۍ رامه

شه

غم د شهید جانان د زړه وطن رنګین کړو راته دې
پسرلي پسې خزان د خوشالۍ رامه شه

د شهادت پېغام او سور تش کمر بند دې غوارم بغېر
له دې نه ستا لخوا بله ډالۍ رامه شه

چې فرشتې مې سور بدن لکه ډولۍ وړي ګور ته زما
خوښیږي دا ډولۍ ماته ډولۍ رامه شه

د شهادت مرګ که مې ربه په نصیب کې وي نو سنګر
ته ما وروله ما پسې ګولۍ رامه شه

چاچې د رب کور ته د سوال تشه ځولۍ وروړې
داسې ښایئسته سائېل هېڅ وخت تشه ځولۍ رامه
شه

د بچو حق کې پښتنې داسې دعا کوي چې جهاد ته لاړ شه په سیالی خو په سیالۍ رامه شه

نور ئې ورېوکې خور ته پاکه ربه صبر ورکړه د ورک ورورک په انتظار کې تر بلۍ رامه شه

انقلابي دوران افغانستان د لمبو کتاب ځان به بندي ګڼي که چا ولوسته ما په صحیح معنا دنیا ولوسته د رب تخلیق ته حېران پاتې شومه د زړه په سترګو مې ښکلا ولوسته

بیا به خندا پورې خندا در درومي که فلسفه دې د ژړا ولوسته کیسه د مینې د لمبو کتاب کې

لکه پتنګ طالب ملا ولوسته

د ازادۍ سند به زه اخلمه

د انقلاب مدرسه ما ولوسته

بیا به ګونګېږ واجب القتل ګڼېږ که زندګي دې د بورا ولوسته

بېګامې ستا د انتظار کتابچه ګرانه په ډک زړه تر سبا ولوسته ژوند به د وينو قرباني وګڼې که دې ويرجنه کربلا ولوسته

( مفتونه ) بیا به دې مجنون بولمه که دې په سرو سترګو صحرا ولوسته

لره پښتونخوا - ۱۳۸۵ ما وپېژنه لــه تــا نــه ځــار پــه تــا قــربــان يــمـه مـا وپـېـژنـه

جانانه زه

د ستا جانان يمه ماوپېژنه

چې ستا ارمان ته سره ګلان د امېدونو راوړي

ګرانه زه

هغه سپین ارمان یمه ماوپېژنه

هسې بدرنګو بد نظرو ته اغزی ښکارمه

ګنې یو

ګل د ګلستان یمه ماوپېژنه

ګوره زه هغه پسرلی یم چې خزان نلري

خو

خزانونو ته خزان یمه ماوپېژنه

د انسانیت قاتله تاته وایم ستا لپاره

زه يو

مقتل او قبرستان يمه ماوپېژنه

څوک مطمئن کړم څوک راويخ کړم او څوک ولړزوم

بلالي

چيغه د اذان يمه ماوپېژنه

د سپينو تورو په پړقا کې خپل ارمان وينمه

د سپينو

حورو طالب جان يمه ماوپېژنه

د وخت سرزوره په زور مه راځه ذليله به شي

سرزور

مغرور افغانستان یمه ماوپېژنه

د جــنګ سـبق انـقلابي افغـانسـتـان راکـړی

زه یې

شاګرد وزیرستان یمه ماوپېژنه

د لېـونېـو پـه قـطـار کې بـه (مـفـتـون) درځـمــه ( وزیر ستان - ۱۳۸۶ ) په سرببر خیرې ګرېوان یمه ماوپېژنه

شال په لمبو ګام اخله کوثر ته ورځم دارته لبېک وایم دلبر ته ورځم

راپارولی یم ترخو خاطرو ډېر بې خطره هر خطر ته ورځم

د سلائي په شان کفن کړم رانجه چې د اشنا قاتل نظر ته ورځم

د مئين خيال په بدرګه بدرګه درد يم د عشق د زړه پرهر ته ورځم

د پښتونخوا ناوې يم شال مې نشته خيبر مې غم نه خوري سپين غر ته ورځم

د ګودر لاره ماته مه راښايه زه شازلمی يمه سنګر ته ورځم

ډال د مظلوم يمه تندی د ( مفتون ) تل به د هر ظالم خنجر ته ورځم

سور بند - ۱۳۸٤ د نور هينداري چا ظالم د سر، سرونه رانه يوړل چا شملې او د ستارونه رانه يوړل

هر سهار لکه بلبل ورپسې ژاړم خزان ډېر ښاېسته
ګلونه رانه یوړل طالبان لکه طوطیان یتیمان ګرځي
وخت د علم ګلشنونه رانه یوړل

څوک د سرو زرو تاجونه را نه اخلي چا د فخر
مینارونه رانه یوړل څوک په بدو بدو سترګو راته
ګوري چا د رحم نظرونه رانه یوړل

چا بدرنګو غمازانو جادوګرو د خوږې میني خوندونه
رانه یوړل چې تورتم کې پرې ډاډه او مطمئېن وم
طوفان هغه مثالونه رانه یوړل

چا په زړه باندې داغونه راته راکړل چا د سترګو نه
خوبونه رانه یوړل چې د رب د نور هینداری وې (
مفتونه ) وحشت هغه سپین مخونه رانه یوړل

لره پښتونخوا _ د سمیع الله طالب العلم په ملګرتیا
ولیکل شو بندي زړه د ویـــــنـــو خـــال چـــې پـــه

تندي پروت وي

| |
|---|
| لکه غمی چې په غمي پروت وي |

کائېنات فخر کړي په هغه طالب

| |
|---|
| چې په سنګر زخمي پروت وي |

د دې نه لویه خوشالي به څه وي

| |
|---|
| د مینې غم چې په زړګي پروت وي |

خـــوب کـــــې ګـــــودر د کـلـي داســـې ګـورم

| |
|---|
| پرې شوی لاس په مات منګي پروت وي |

د دنـــــیـــا غـــــــېـږ بـــه یـــې زږه څـه وغــوارې

| |
|---|
| څوک چې په خوله کې د مرګي پروت وي |

څـــــــــومــــــره مـــــزه کـــــوي د اوښــکو شـبـنــم

| |
|---|
| چې په دې ګل ګل انګي پروت وي |

راځـــــــي په ســـترګـــو کـــې اثــر د زمــري

احساس چې زړه کې جهادي پروت وي

مــــا تــــــه هــــــمـدومــره آزادي پـــکار ده

چې زړه مې تا سره بندي پروت وي

هـــــغه بـــه وي زمـــــا د کـلـــي ښـــکلـی

چې بلا ګرد یې په پیکي پروت وي

د خـــــپـلـو قـــدر بـــه څـــه وپېـــژنـــي

څوک چې په واک کې د پردي پروت وي

مـــلـنـګ طـالـب اخـلـي قـلـنګ لـه هـغـو

څوک چې په تخت د بادشاهي پروت وي

د ( غـــرق مـــفـــتـــون ) غـــزل کـه نـه پـېـژنـې ( بټي کوټ ننګرهار – ۱۳۸۵ ) پکې به خيال انقلابي پروت وي

تنکۍ ارزو ته دومره ډېر ښاېئسته يې چې جهان په تا ښاېئسته دی طالبه غېرتي افغانستان په تا ښاېئسته دی

يو ګل ئې مسته مسته خوشبويي لرې د مينې زما د زړه دا مړاوی ګلستان په تا ښاېئسته دی

لېلئ دې دين دی اې مجنونه مجاهده د ګران وطن هر غر او بيابان په تا ښاېئسته دی

سينګار دې اې زلميه د باروتو کمر بند دی سنګر په تا سينګار د جنګ مېدان په تا ښاېئسته دی

جنت دې ښکاري سترګو کې يو غر د امېدو ئې زما تنکۍ ارزو زما ارمان په تا ښاېئسته دی

الله دومره ښاېئست درته در کړی مجاهده که هر څومره بدرنګ دی خو زندان په تا ښاېئسته دی

جانانه ګوره دا زما کوم خپل خصوصیات نه دي زما هر یو غزل او هر داستان په تا ښایئسته دی

( مفتون ) درنه قربان شمه د خپلې مینې توره ښایئسته به دومره نه وي خو جانان په تا ښایئسته دی

( ننګرهار ، باندر ) راته ګران مجاهد بندي ملګري عبدالقدوس مجاهد ته ډالۍ سنګر سنګر هېواد کـــــه د پــېـغـلـو مـړونـدونـو کـې بـنـګـړي شــتــه

زمونږ لاسو کې هم داغونه زنداني شته

جـــیـنـکــۍ کـــه پـــه خـــالـــونو بـانـدې نــاز کــړي

زمونږ هم د جنګ زخمونه په تندي شته

د مـــلالـــې پـــه خـــېـــر پـــېـــغـــلې بـــه ضـــرور وي

هم ځوانان شته هم جنګونه مېوندي شته

د وطـــــــن نـــــاوې بـــه پـــرې نـــږدي ســــرتــــــوره

لا تر اوس يو څو ځوانان د تور پټکي شته

ســرهٔ کــوکــري او خـــرلــېوان بــه پــکــې سر خــوري

د وطن په دښتو غرونو کې زمري شته

د ســـــنــګــر او د زنــــدان ژونـــــدون ئـــې خــــوښ دی

مونږ کې دغه شان سپېڅلي لېوني شته

يــرغـــلــګــر بـــه مـــات او ګـــوډ پـــــه ژړا درومـــــــي

مجاهد ملا عمر غوندې سرې شته

حـــــيـأ دارې جــيـنـکــۍ دې پــه کـــــور
کــيـنـي

سنګرونه لا ساره نه دي زلمي شته

دا شـــــهـيـد شـهـيـد سـنـګـر هـېـواد
دی

دلته هر چا سره خيال انقلابي شته

د دې ټــــول ســــــرزور جــــــهــان پــرواګــیــر نــه دي

| |
|---|
| مجاهد شهادت خوښي فدايي شته |

اې ( مــفــتــونـــــه ) څــومــره ښــه د جــهــاد وخــت دی ( ۱۳۸۵ ) هم کافر شته هم جذبه شته هم ځواني شته

سور کفن که مې تاریخ بیا ژوندی نکړم افغان به نه یم که مردار دا د وخت بچی نکړم افغان به نه یم

د قرا قول او نېکتبايي په غلامانو باندې که بیا حاکم خپلواک پېټکی نکړم افغان به نه یم

د حق په سر کې که لمبو ته غاړه ورنکړمه که زه ځان داسې لېونی نکړم افغان به نه یم

که د دې وخت په دې سرزو رو ظالمانو باندې يخ د
مظلوم ولس زړګی نکړم افغان به نه يم

د مجاهدو ادې ستا ريښې ريښې ټيکري ته که دا
رنګين جهان لوګی نکړم افغان به نه يم

ستا عاجزۍ ته د وختونو دا مغروره شاهان هر يو په
سور اور سپېلنی نکړم افغان به نه يم

ستا په وصيت که د وطن د آزادۍ ناوې ته په وينو
سور کفن ټيکری نکړم افغان به نه يم

( مفتونه ) ان شاء الله دې خزان وهلي باغ ته دا
خپلې وينې پسرلی نکړم افغان به نه يم

۱۳۸۸

د شهادت ارزو

فدايي يم هر ساعت مرګ پسې ګرځم دارته خاندم د
غېرت مرګ پسې ګرځم

د جنت تصوير مې سترګو کې غرېبږي ډېر په مينه
محبت مرګ پسې ګرځم

د ژوندون په مقصد دومره ښه پوهيږم چې هر
وختې د عزت مرګ پسې ګرځم

ټول غافل انسانان مرِه راته ښکاريږي ځکه داسې په
جرأت مرګ پسې ګرځم

د باروتو هېبتي لباس مې کړې طلبګار يم د جنت
مرګ پسې ګرځم

جنازه به مې ( مفتونه ) فرشتې ورېي په اخلاص د
شهادت مرګ پسې ګرځم

کجورۍ – ۱۳۸۵ زېـرى كـــه نـوې مـياشت د نـوي كال زېـــرى دى

| |
|---|
| نو زوړ تاريخ د نوي خيال زېرى دى |

بــيــا به په زوړ رانـګ راځــي نــوى بــدلــون

| |
|---|
| دا د مظلوم ملت د سوال زېرى دى |

د بــنــدي يــار د زولـــنـــو پـــه شـــرنـــګ كــې

| |
|---|
| پروت د يو نوي استقلال زېرى دى |

دا په سرو وينو سور كفن د شهيد

| |
|---|
| د ازادۍ ناوې د شال زېرى دى |

غمجنو شپوكې سپينې سپينې اوښكې

| |
|---|
| د خوشحالۍ د سپين مشال زېرى دى |

زمونږ زوال كې چې خوشې لټوې

| |
|---|
| آغياره دا دې د زوال زېرى دى |

د نيكه توره ږال يې څكه وركړل

چې چا ورکړی د مډال زېړی دی

غــربــي ســـوغــات د غــریـبانــو پــه نــوم

د نفرتي برلېن دېوال زېړی دی

خــود بـه خــامار غـونـدې هـېـئـبـت لــرمـه

ځکه چې خوله کې مې د لال زېړی دی

د ورک ( مـــــفـتـون ) نــه چـا راوړی راتـــه ( ۱۳۸۳ – شمشاد لمن ) پـه ترمو اوښکو لوند دسمال زېړی دی

غني زرِه

چې ژوند غوارم د مرګونو دنیا اخلم ستړې ستړې د
غمونو دنیا اخلم

دا چې ګرځم د باروتو په جامو کې ساده نه یم د
ګلونو دنیا اخلم

چې مغرورو، نه د مینې امېد ساتم مظلوم کېږم د
ظلمونو دنیا اخلم

ګوره دا مې د ازاد ضمیر اعلان دی چې د تورو
زندانونو دنیا اخلم

دا ترخې شبګیرۍ ځکه ډېر په شوق کړم چې د مینې
د خوندونو دنیا اخلم

ښکلوم د جهاد ګرم سنګرونه د جنت د سینګارونو
دنیا اخلم

شاعر زړه غني کوم ګرانه ( مفتونه ) مئين کېږم د
دردونو دنيا اخلم

علي مسجد – ۱۳۸۳ سپېڅلی لښکر خيال مې د خال
غلامي کله مني ملا د مال غلامي کله مني

په سنګري، سينګار اثر نه کوي پټکی د شال غلامي
کله مني

زما احساس او د ستا خام خويونه خنجر د ډال
غلامي کله مني

ماته ماشومې نخرې ولې کوې لمر د مشال غلامي کله
مني

درې اويا حورې د پاک رب نه غوارې ستا د مډال
غلامي کله مني

زما ضمیر د لوی خالق غلام دی د دې کلال غلامي کله
مني

د وخت مهدي سره سپېڅلی لښکر د برګ دجال
غلامي کله مني

یقین لري د کاېنئاتو په رب ( مفتون ) د حال غلامي
کله مني

باره – ۱۳۸۷ اختلاف

څنګه چې رنګونه مختلف لرو دغه رنګې زړونه
مختلف لرو

خدا کا سره جوړ شو سره وژنو به مونږه نظرونه
مختلف لرو

هېڅ وخت به یو نشو د جهان سره دوي نه تاریخونه
مختلف لرو

دا سر سري جوړه سرته نه رسي مينځ کې هدفونه
مختلف لرو

ځرنګ به يو بل سره همغږي شو يو بل نه فکرونه
مختلف لرو

دوي سره زمونږه مينه نه کېږي مونږ ترې طبيعتونه
مختلف لرو

دلته مو ( مفتونه ) لارې بېلې دي هلته منزلونه
مختلف لرو

لوارګی _ جمعې شپه - ١٣٨٤ نيمګړی اذان دا چـــــې
تــه نــه بـــولــې خـــپـل ځــان نــيـمـګـړی

ورکوې رب ته امتحان نيمګړی

تـــش پـــه دې نـــه کـــېږي چـــې شـــــاه و ګـــــدا

دنيا کې دی هر يو انسان نيمګړی

چـــــا چـــې نـــيـــمـــګـــړی ځـــان پـــوره ګـــڼـــلـــی

وړی ئې قبر ته ارمان نيمګړی

غـــــافـــلـــه مـــــه ګـــــرځـــــه د کـــــبـــر پـــــه آس

دی د ځوانۍ دغه دوران نیمګړی

پکې مې شته د ژوند پوره فلسفه

چې مې په غاړه دی ګرېوان نیمګړی

د زړګي للمه به سمسوره نه شي

چې پرې د اوښکو وي باران نیمګړی

د انـــــــقــلاب ســـــــپـــــــره خـــزان لــه لاســـــه

| |
|---|
| دى مې د ګل غوندې جانان نيمګړى |

پـــــه بـــــم الـــــوتـــــى مـــــجاهـد زلــمــى دى

| |
|---|
| که پروت دى لال د بدخشان نيمګړى |

پـــــه دار نـيمګـړى شــه چـې ځــوک يــې غـــوارې

زمونږ د مينې دا داستان نيمګړی

لـکه چې بيـاپــــه جــومـــات بـــــم پـــرېــوتـو

څکه چې پاتې شو اذان نيمګړی

د چـــا ارمــــان بــــه پـکــې څــــه پــــوره شــــي

چې ژوندون دی د دې جهان نيمګړی

( مــفــتــونـــه ) هــر څـــه دې نــيــمــګــړي وي
خـــبـــر ۱۳۸۵ خدای مو دې نه کاندي ایمان نیمګړی

واک

ځان زما او زه د ځان په واک کې نه يم ډېر بې واکه
يم هېڅ شان په واک کې نه يم

ښاپئسته ګل يم خاماخه به خزان کېږم خو بيا هم زه
د خزان په واک کې نه يم

په مجاز کې د زندان په غېږ کې پروت يم حقيقت
کې د زندان په واک کې نه يم

ربه ستا په هر يو حکم ډېر راضي يم شکر دا چې د
انسان په واک کې نه يم

زه ( مفتون ) سيېڅلي عشق کې غرق و پرق يم دې
مغرور سرزور جهان په واک کې نه يم

ازار ستړی ژوندون دی قرار نشته
نشته

کلی وطن نشته یار نشته نشته

کړی بې رحمو غمازانو
یرغل

د مینې ګرم بازار نشته نشته

د مړاوي ګل تنده به څه ماته شي

| |
|---|
| خشکه غرمه ده سهار نشته نشته |

په مظلوم ځکه سرې لمبې بلیږي

| |
|---|
| چې ظالمانو ته دار نشته نشته |

مستې جذبې د وخت فریب خوړلي

| |
|---|
| په غلیمانو ګذار نشته نشته |

شپونکی جانان ترې انقلاب وړی دی

غرونه خاموش يکه زار نشته نشته

ښـــــکاري خـــــطا مـــو کـــړه د کـلـــي لاره

د وينو ځاځکي قطار نشته نشته

زمـــــا د اوښـــکو بـــــه څـــه قـدر وکـــړي

چې ستا په زړه کې پرهار نشته نشته

تـــوبـه تـــوبـه داســـي مـــې هـم واورېـــدل

چې د مئینو ازار نشته نشته

( مـــفـتـونـه ) شاکڅ کـــې غــزل خـــامـیـږي

دلته نختر او چینار نشته نشته

1382 را باندې ګران دي

که مې خپل دې که پردي راباندې ګران دي خو په
دین مئین زلمي راباندې ګران دي

د پردېو شهزادګانو په بدل کې د خپل کلي لېوني
راباندې ګران دي

اې ( مفتونه ) د یو مست وصال په هیله دا غمجن سترې هجران را بانديې ګران دی

مجاهدينو ته ډالۍ

شعر ونه

په دې خو هر سړی ډېر ښه پوهیږي چې طالب څوک دی او مرام يې څه دی

څوک چې د شک په سترګه ګوري ورته ګورې به هغه چې انجام یې څه دی

•

▪

▪

مونږه دا ورځې د الله نه غوښتې چې زمونږ دشمن افغانستان ته راشي

بیا پرې زمونږ ماشومان لوبې کوي چې د چا لاس زمونږ ګرېوان ته راشي

په کوم جاسوس چې د مرګ سېوری وشي آ لېونی وزیرستان ته راشي

•

▪

▪

د دنیا داسې یو دستور غوندې دی چې هر سړی
ګرځي د بل مرګ پسې

دا څوک چې نن زمونږ ورکه غواړي دا جاهلان ګرځي
د خپل مرګ پسې

- 
  - 
  - 

زمونږ د کلي عجیبه رواج دی دلته چې ښکلي راشي
زړونه یوسي

چې بدرنګ راشي نو په بده ورځ شي پرې شوې ښېې
او مات سرونه یوسي

- 
  - 
  - 

زمونږه چم ته چې کمزوري راځي په هره لار ورته ګلونه کړو

خو زورورو ته لږ زور ورښایو ورته سکروټې او بمونه کړو

- 
    - 
    - 

زمونږ ماشومان چې په خبرو پوی شي ښکار د مرغانو کېږي لیندۍ غواړي

د ماشومتوب نه یې احساس جنګي وي مدام د ټوقو تمانچې غواړي 3 وزیرستان دنګ زلمی هغه دنګ زلمی څه شو کلی چې پرې ښکلی وو آخر لاړ شهید شولو جنګ کې لګېدلی وو

- 

▪

وه ګرانه راځه وایې زر را ته کیسه وکړه دا څنګه شهید شولو کومې خواته تللی وو کله چې مو راغی ګران وطن ته دا وحشي لښکر هاغه ورځ خفه وو ډېر زړه یې دردېدلی وو

ځان سره جمع کړل نور مجاهدین ځوانان هېڅ منعه کېدلو نه ډېر جذبې نیولی وو تور پټکی او تور زلفان زېږ ماذیګر وو تو تور ټوپک یې لاس کې وو بند یې هم تړلی وو

ټوله شپه یې غرونو کې کړې مزلونه وو سم د سبا ئې په وخت جنګ ته رسېدلی وو برید د جنګ یې کړې وو ناڅاپه دشمن باندې دا د ازمري پشان نېغ پرې ورختلی وو

ډېر یې مردار کړې وو دا خپل او پردي کافر یو یو یې مړ کړې وو بېل بېل یې ویشتلی وو

بیا نو آخر دۀ هم په سینه مرمۍ خوړلې وې چیغې د تکبیر سره مخامخ لوېدلی وو

کله یې چې راوړلو کلي ته ملګرو یې وینو کې د ګل غوندې ښکلی لمبېدلی وو

شونډو کې مسکی ښکارېدو یقین وکړه نه ښکارېدو مړ غوندې هسې خوبولی وو

تلله خوشبویي ترېنه خلک وو حېران ورته ډېره عجیبه ورځ وه ډېر عالم راغلی وو

هر څوک دردېدلی وو ډېر غمجن غمجن وخت وو سترګې د هر چا سرې وې هر څوک ژړېدلی وو

زه یې هغه بله ورځ قبر ته ورغلی وم خپل په وینو سور پټکی پاس پرې غوړېدلی وو

پاڅېږئ جهاد وکړئ خوند د شهادت واخلئ مونږ لره
په شناخته يې دا پېغام ليکلی وو

اې ( مفتونه ) ته يې هم پام کوه چې هېر نکړې
څومره عجيبه ځوان وو تا خو هم ليدلی وو

شهيدانو ته ډالۍ دويم وېتنام ځکه خوږ لګيږي نام د
تورې بورې چې ډېر ښکلی دی مرام د تورې بورې

ورته سرې سپينې ماڼۍ په سجده دي دومره دی
اوچت مقام د تورې بورې د سپېڅلو شهيدانو له اثره
کائېنات کوي سلام د تورې بورې

وخت د حال په ژبه داسې راته وايي دويم نوم به
شي وېتنام د تورې بورې دې مغرورو بادشاهانو ته
هېبت دی يو ورېوکی شان غلام د تورې بورې

د وخت هر يوۀ کفري وحشي يرغل ته قيامت شوی
دی قيام د تورې بورې يو مرکز دی د سرتېرو مجاهدو

لازم بولم احترام د توري بورې

د جهاد احساس که ویخ غوارې ( مفتونه ) لږ شه
غېرږه کې ارام د توري بورې

۱۳۸٤ هېئبتي سترګې

مجاهد دی د سنګر په لار ویدۀ دی که کوم ګل دی د
وربل په دار ویدۀ دی

دا زلمی طالب شهید دی په سنګر کې که غمی په ګرد
وهلي هار ویدۀ دی

پرې کوترې د جهاد ترانې وائي د سنګر د افتخار
چينار ویدۀ دی

هئېبتې سترګې شوې پټې د ځوانانو د آغیار په زړه
کې ځکه ډار ویدۀ دی

د غرور په خنداګانو به ویخیږي ذهیر زړه کې مې
قاتل ازار ویدهٔ دی

ناقرار نیمګړي ژوند نه سترې شوی غېږ د خاورو کې
یو څوک قرار ویدهٔ دی

په خوږ غږ ئې د تکبیر ویخ کړه ( مفتونه ) د غفلت
ترخه پرده کې ښار ویدهٔ دی

ټوټه

مانېزوړو تول کې ونه سېزئ

زه یم ګلاب سېلاب راوړی یمه

بې قدره څکه یم بې قدرو کړه

د انقلاب سېلاب راوړی یمه

پېښور د هجرت دوران

پند

دا چې خوږ راته له ځان دی راته مرګ دی

| |
|---|
| چې له هر چا راته ګران دی راته مرګ دی |

چې خزان، خزان ژوندون ته مې سپرلی دی

چې ګل ځان ته مې خزان دی راته مرګ دی

آژدها مست بلبل یم د پرهار نه مې ډار نشته د ګلاب

تر مخ د خار نه مې ډار نشته

را لوی شوی یم جنګ جنګ او انقلاب کې ستا د
کروزو د ګزار نه مې ډار نشته

په خاطر د خپل عزت محتاط وسېږم ګنې هېڅ د یو
کفار نه مې ډار نشته

اې د وخت نمروده زه د وخت خلیل یم سرو لمبو او
سره انګار نه مې ډار نشته

آمساه مې آژدها د وخت موسیٰ یم فرعوني باطل
خامار نه مې ډار نشته

مسلمان یم د افغان اصلي بچی یم غل غلام او د
غدار نه مې ډار نشته

شهادت مې ده ارزو جهاد مې لار ده مجاهد یمه د دار
نه مې ډار نشته

حق پرست یم ( مفتون ) مل یم د نېکانو بت پرست
او بد کردار نه مې ډار نشته

۱۳۸٤ تقریباً د لالپورې د سیندغارې سیمه تندر

حق پرست یم حقپالانو پسې ګرځم زخمي زړه یم
طبیبانو پسې ګرځم

زه په سپینه مینه تور مئین بورا یم د اسلام د بڼ
ګلانو پسې ګرځم

په زړګي کې مې اور بل د انتقام دی د شهید د قاتلانو
پسې ګرځم

مجاهد یم فولادي چاړه په لاس کې دې نجسو
جاسوسانو پسې ګرځم

زه هم ورور د دادالله او زرقاوي یم لکه تندر صلیبیانو
پسې ګرځم

سپین طالب یم لکه سپین شاهین حملې کړم دي
بدرنګو ټپوسانو پسې ګرځم

د ( مفتون ) شاعر قلم کمزوری نه یم لکه غشی
غلیمانو پسې ګرځم

۱۳۸٦ وزیرستان ډاکوان

غمازان راځي جانان راځنې اخلي دا د ټول عمر ارمان
راځنې اخلي

شاړوي سمسور ګلشن زما د هیلو خزانونه دي ګلان
راځنې اخلي

سور غربي ساحر منتر د ډالر وائي په دې چل هنر
ایمان راځنې اخلي

انقلاب د جنګ کچکول په غاړه ګرځي مجاهد تنکي
ځوانان راځنې اخلي

د خزان بلا راغلې ګلستان ته بورا ګان او بلبلان
راځنې اخلي

د مرګي قلنګ ته فکر يمه ورېی ډېر خوارېه خوارېه
دوستان راځنې اخلي

د دنيا ډاکوان راغلي دي ( مفتونه ) خپل ښاپئسته
افغانستان راځنې اخلي

۱۳۸٦

الهام

لږ اشنا راته راوګوره چې ځې کرېم دعا راته راوګوره
چې ځې

د ژړا انځور مې مات کړه په زړګي کې په خندا راته
راوګوره چې ځې

انقلاب دی بیا لیدل یقیني نه دي یو ځل بیا راته
راوګوره چې ځې

څو خوږې خاطرې سترګو کې ډالۍ کړه په مسکا راته
راوګوره چې ځې

د غزلو الهام راکړه مجاهده لړ په شا راته راوګوره چې
ځې

هسې نه چې ( مفتون ) بیا درپسې غرق شم خاماخه
راته راوګوره چې ځې

۱۳۸۶ خیبر جنتي منظر که دې سمه ده که غر دی
نورستانه په هر څه کې دې اثر دی نورستانه

طالب خویه دي اتڼ کوي طوفان کې که دې لمنځه که
نښتر دی نورستانه

لېونو ته جذباتي شي لېونی شي دا عادت دې خوندور دی نورستانه

نازولي شهيدان لرې په غېږ کې جنتي د ستا منظر دی نورستانه

هره ترږه هر ګرېنګ او هره لار دې د جهاد سنګر سنګر دی نورستانه

دې مغرور او يرغلګر کفري لښکر ته ستا نامه زنګ خطر دی نورستانه

د زمريانو او بازانو جنګي کور يې شان شوکت دې لکه لمر دی نورستانه

ستا بچي ور باندې ګران دي ته يې خوښ يې ( مفتون ) ځکه بختور دی نورستانه

د نورستان مجاهدینو ته ډالۍ ۱۳۸۸ یتیم کلی نشته
کور مې نشته پلار مې نشته مور مې نشته

چې همزولو کې پرې ویارم هغه شوخ دنګ وروړ مې نشته

چې مې مخ له خاورو پاک کړي هم ذهیره خور مې نشته

سپور نظر ته مې چې آب شي څوک د سترګو تور مې نشته

د دردونو اور کې سوزم یخ د زړه ټکور مې نشته

د حال زړه راته لا ډک دی خو د تېښتي لور مې نشته

چې د پلار انتقام واخلم دومره وس او زور مې نشته

خوار یتیم د زمانې یم غم مې شته غمخور مې نشته

باجوړ ۱۳۸۳ خاموش ماذيګرونه عجيبه غونډې
وختونه ځي راځي رنګ په رنګ امتحانونه ځي راځي

زخمي شونډې مو خندا ته جوړ نشوې بس سلګۍ او
فريادونه ځي راځي

خوشالېو چرته پېښه راو نکړه ټول غمونه او دردونه
ځي راځي

د مستۍ او د سېلونو ورځې نه دي جنازې دي او
ويرونه ځي راځي

رژوي راته ځوانان لکه ګلونه د مرګونو خزانونه ځي
راځي

په جومات، ګودر، حجرو، بمبارۍ وشوې بېر خاموش
ماذيګرونه ځي راځي

اوس د زاڼو قطارونه نشته نشته د کافرو جهازونه
ځي راځي

د ( مفتون ) د ارمانونو ګلستان ته د باروتو سره
اورونه ځي راځي

۱۳۸۵ شازلمي د ګلونو غونډې ښکلي شازلمي دي
طالبان دي نازولي شازلمي دي

زه يې ځکه ښکلوم په دوارو سترګو په دې لاره باندې
تللې شازلمي دي

سره ګلونه يې سرو سترګو، نه شرمیږي د سنګر
شبګیر وهلي شازلمي دي

د يو سپین مرام او سپین قانون لپاره په سرو وينو
لمبېدلي شازلمي دي

قربانۍ ته يې منصور ګوته په غاښ دی په خندا په دار ختلي شازلمي دي

کيدړان يې ټينګېدی نشي ګزار ته د زمرو په شان غښتلي شازلمي دي

اې ( مفتونه ) د جهاد له برکته په زلمېو کې ښاغلي شازلمي دي

خپله سيمه ١٣٨٦

د خنجرونو په سرونو

شاهين دی مجاهد ګرځي د غرونو په سرونو يو تندر دی د کفر د پوځونو په سرونو مئېن د دين په شمع يو سپېځلی مست پتنګ دی تل اوړي او را اوړي د اورونو په سرونو له ژونده بې پروا دی او هدف يې شهادت دی مزل يې تر منزل دی د بمونو په سرونو مظلوم دی خو بيا هم د هر قاتل د سر قاتل دی

سرونه ترې راوړي د خنجرونو په سرونو ستومانه

مجاهده ستا په مخ خولې پرتې دي که پرخه ورېدلې

د ګلونو په سرونو له ډېرې مستۍ داسې غورځنګونه

په غليم کړې خپې لکه د مستو دريابونو په سرونو

اتر د شبګيرو دی مجاهده ستا لېمو کې که، نه، نرۍ

لوګی د مشالونو په سرونو تر مرګه به مو هېر نشې

غازي شهيده ياره ليکلې ستا نامه مونږه د زړونو په

سرونو په ننګ که شهيدان شوئ د ( مفتون ) خوږو

ملګرو اشعار به ورته ليکم د قبرونو په سرونو

شين ډنډ ۱۳۸٤

فدا يي يم

په اسلام سر ورکو فدايي يم بم په ځان پورې ترمه

فدايي يم

د اېښمونو خاوندان مې اوتر کړي ايماني وسله لرمه فدايي يم

باروتي جامې مې کړي دي روان يم کافران مردارومه فدايي يم

د غرور دنګې ماڼۍ ته زلزله يم آن تر بېخ يې نړومه فدايي يم

اې ( مفتونه ) دې ښاېسته ښکلې نړۍ نه بدرنګ خلک ورکومه فدايي يم

۱۳۸٤

جنتيان

سلام، سلام،سلام اې قدر دانو فدايانو په دين باندې مئينو طالبانو فدايانو د اېښم دا مغروره خاوندان درنه ډارېږي جهان مو حېران کړی اتلانو فدايانو د وخت

وحشي کافر ته مو دنیا دوزخ کړه سپېڅلو
مجاهدو شازلمیانو فدایانو تنکۍ تنکۍ ځوانۍ مو
پرې لمبه، لمبه، لمبه کړې د حق په سپینه شمع
پتنګانو فدایانو د مرګ خزان که پاڼې پاڼې کړلئ پروا
نشته خو ژوند مو معطر کړلو ګلانو فدایانو کوکریو،
ګیدړانو ته نامه د ستاسو مرګ دی اثر لرئ هئېبت لرئ
زمریان فدایانو دنیا درته حېرانه، کائېنات درباندې
ویاړي مرګي ته په خندا ورځئ ځوانانو فدایانو
ملګرو په رنګونو کې مو ښکاري جنتونه ګلان درنه
شرمیږي جنتیانو فدایانو هم تاسو، یې سکون یاستئ
او تاسو باندې ویاړي ( مفتون ) ته له دې خپله ځانه
ګرانو فدایانو

عالم گودر ۱۳۸٤

نیازبین

تېر له سره په خپل دین یم مجاهد یم په وطن باندې
مئین یم مجاهد یم

جنګي ځوان یم لکه ګل په خپلو وینو سینګار شوی
یم رنګین یم مجاهد یم

یرغلونه ماتومه دا مې کار دی په خپل عزم کې
سنګین یم مجاهد یم

لوږې تندې د اسلام په خاطر ګالم ګنې زه خو هم
نیازبین یم مجاهد یم

چاته تریخ ذهر قاتل د مرګ سبب یم چا ته خوږ لکه
ګبین یم مجاهد یم

اې ( مفتونه ) تېوسان مردارومه د وطن د غرو
شاهین یم مجاهد یم

دېمواکراسۍ زامن ځيني خلکو په ډالرو ايمان خرڅ کړو چا بنګله او په موټرو ايمان خرڅ کړو چا پرې خپلې تنخواګانې اضافه کړې چا پټلون او په نېکرو ايمان خرڅ کړو چا سرښکته کړلو بوش او اوباما ته خو يو چا يې په ملګرو ايمان خرڅ کړو د ملي اتلولۍ دعوه کونکو د دې وخت په يرغلګرو ايمان خرڅ کړو لوی خبيث شي او کانديد شي، ډګروال شي که هر چا په زورورو ايمان خرڅ کړو چا پرې واخستل چاکليټ او بسکټونه چا، جوارو، په ټېپرو ايمان خرڅ کړو په ټېپ، ټي وي، اورېديو غوندې شيانو ډېرو، زياتو ټنګه سرو ايمان خرڅ کړو افسوس ډېرو جاهلانو افغانانو په شرابو او سندرو ايمان خرڅ کړو د ښار خلکو ډرامو او په فلمونو د يورپ په لنډغرو ايمان خرڅ کړو اسلام څه چې انسانيت يې شرمنده کړو دوي د وخت په ځناور ايمان خرڅ کړو

۱۳۸۸ د خبیثې دیموکراسۍ زامنو ته ډالۍ بې غیرته
ځان ته شوې خطر کفر ته واوښتې ته چې په ډالر
کفر ته واوښتې ختېه دې افغانه مسلمانه وه ولې
دومره زر کفر ته واوښتې هېڅ د عقیدې په مفهوم
پوی نشوې شولې ځناور کفر ته واوښتې سپین قانون
د امن دې ونه مانه خوښ دې کړلو شر کفر ته
واوښتې دغه سره شېطان ته دې سرښکته کړو کار
دې شرر کفر ته واوښتې مور چې په کجورو، وې
مؤمن وې ته لږ چې نهر کفر ته واوښتې تا نه به
غوځیږي د ( مفتون ) په لاس دغه غلام سر کفر ته
واوښتې تقریباً ۱۳۸٤ باریکاب

زور

خلک غافلان د خرافاتو ډېره ښه مني بل ددې دنیا د
روایاتو ډېره ښه مني

تېر ورځنې هېر شي د راتلونکي نه خبر نه وي ټول د
وخت بچي دي د حالا تو ډېره ښه مني

داسې وخت راغلی چې درنو هستو ته سپک ګوري دا
کمزاته خلک د بې ذاتو ډېره ښه مني

دلته حق ویونکو لره ژبې مهر شوي دي دا مفسد
واکمن د مفسداتو ډېره ښه مني

زور چې درسره نه وي ( مفتونه ) نصیحت مکړه دا
ځناور خلک د کراتو ډېره ښه مني

تقریباً ۱۳۸٤ د کراتو په کلب کې ولیکل شو

ګران افغانستان

رایادیږي هر زمان افغانستان زما زړه سترګې او ځان افغانستان

په ښاېست کې ټول جهان ترېنه لوګی شه دومره حسن لري وران افغانستان

ډېر نیازبین دی په قلنګ کې رانه غواړي مجاهد تنکي ځوانان افغانستان

مونږه تل په خپلو وینو سمسور کړی دا سپېڅلی ګلستان افغانستان

د ( مفتون ) په ژبه تل دغه ګردان وي زما ګران
افغانستان افغانستان

۱۳۸٤ خېرات زار دې شمه دا عادت چې زيات نکړې
ماته زړه په ماتو وعدو مات نکړې

پرېږده دا د تلو خبرې مکوه جوړ چې مې ګرېوان
باندې برسات نکړې

خدای به درنه واخلي د ځوانۍ غنأ پام چې په
مظلومو د زکات نکړې

خوږ به شې اشنا د کوه طور په شان ګرانه هېر د
مينې خوږ تورات نکړې

زه د هر حالت ترجماني کړای شم جوړ چې راته نوي
روايات نکړې

زړه به درنه لاړ شي زړه به وبائېلې ګوره که قبول د
زړه سوغات نکړې

ته خو اول خپل غم نه تپوس وکړه بیا ( مفتون ) ته
وایه چې خېرات نکړې

کځ ۱۳۸۲ ذهرجن خاطرات سپرلیه ستا په هجر کې
رنګین زما غزل شو د تریخ خزان په غېږه کې شیرین
زما غزل شو

د ستا پښتنو سترګو چې سبق د حیأ ورکړو جامه یې
پښتنه شوله سنګین زما غزل شو

بوتان یې د شکونو د زړګي کعبه کې مات کړل چې
کله حق پرست شو نو یقین زما غزل شو

هر بېت هر مصرعه کې یې هر چا ته ښکاري ځان د
حق چې ترجمان شو نو آئین زما غزل شو

مئین چې دي په حق باندې سپېڅلې ښکلا لمانځي
همدې مینې پرستو لره دین زما غزل شو

ستومان خولې خولې مجاهدین چې یې وستائېل
ترې ووت پیکه والی او مالګین زما غزل شو

( مفتونه ) چې وخت کله ذهرجن خاطرات راکړل نو
پس له هغې خوږ لکه ګبین زما غزل شو

باره ۱۳۸۳ حسینه کار نامه مرګ به دې مېلمه شي د
ژوندون ورځې به تېرې شي را به شي بېلتون د
پېوستون ورځې به تېرې شي

اې ساده زړګیه لږ د نورو زړونو خیال ساته بیا به
داسې نه یې د سکون ورځې به تېرې شي

را به شي د کلي د اختر د خوشالۍ ورځې دا د
صحراګانو د جنون ورځې به تېرې شي

خدای به مې د زړه په باغ باران د وصال راولي دا د وچکالۍ د خشک بېلتون ورځې به تېرې شي

پام د بوډا توب د مدرسې نه چې غافل نشې دغه د ځوانۍ د مست مضمون ورځې به تېرې شي

ګل به د مسکا په پسرلي شي دا غوټۍ شونډې دغه د خزان د زړه چاودون ورځې به تېرې شي

زړه یې د حسېن غوندې حسینې کارنامې ته دی ښکل یې کړه جانانه د ( مفتون ) ورځې به تېرې شي

باړه حسین اکبر دوکان ۱۳۸٤ ګرانه مور ستا عظیم شان و شوکت دی ګرانې مورې رب درکړی ډېر عزت دی ګرانې مورې د بچو په غم دې تل سترګې لمدې وي دومره ډېر دې محبت دی ګرانې مورې د ژوند باغ ته پسرلی زړه ته سکون یې عجیبه دې حېثیت دی ګرانې مورې بې لتانه دا ښائېسته ژوندون بدرنګ دی

ستا وجود د ژوند زينت دى ګرانې مورې كلى، كور او جهان تا باندې آباد دي ستا بېلتون ثاني قيامت دى ګرانې مورې تا ته يو نظر كتل حج اكبر دى ثوابونه دې صحبت دى ګرانې مورې د ښپو خاوره دې زخمي زړه ته مرهم دى زړه دې ډک له شفقت دى ګرانې مورې ستا په سترګو كې بلا خوښۍ پرتې دي ستا قدم لاندې جنت دى ګرانې مورې ستا رضا كې د الله رضا موندى شي حق دې ځكه كرامت دى ګرانې مورې كه څوک غواړي كاميابي په دوه جهانه لوى سبب يې ستا خدمت دى ګرانې مورې د ژوندون د حادثو په غبږ كې ګېر يم ستا دعا ته ضرورت دى ګرانې مورې ( مفتون ) معاف كړه شفقت ورباندې وكړه ۱۳۸۷ تا ته ډېر زيات ملامت دى ګرانې مورې عجيبه يو شان دي همزولې دي خور ګانې دي ښكلې دي نازكې شهزاد ګانې دي

تل يې د حیأ څادر اغوستی وي هر څومره که مستې
دي او ځوانې دي سل ژبې يې زده دي، خو، څه،نه
وايي ته به ګنې وايې چې ګونکیانې دي

ما ته پرې داېول جهان ښائېسته ښکاري ما باندې بې
حده ډېرې ګرانې دي هېڅ قسم منفي ارخونه، نه لري
رب ورکړې ېولې ښې خوبیانې دي

زغري لري غشي ورسره لري ګوره مجاهده دي
جنګیانې دي هېڅ يو ېپوس خويه ورکتی نشي رعب
لري دهشت لري بازانې دي

پاکه مینه غواړي په خاموش انداز داسې پاک لمنې
ملنګانې دي بد نظر او بد خويونه، نه مني دې عادت
کې کلکې طالبانې دي هېڅ سره بېلېږي نه جوړه
ګرځي خو خصلت کې سمې يتیمانې دي

هر وختې په تور غلاف کې پټې وي ښکلې ثنا خوانې بلبلانې دي کله کله سپینې تسبې اړوي ډېر د حق پرست پیر مریدانې دي

کله چې د چا غم کې شپه روڼه کا وائې به حفصه کې شهیدانې دي ډېر زیات په حکمت د زړونو ښکار کوي ډېرې عجیبه غوندې ښکاریانې دي

دا صفت یې ټولو کې ډېر خوند کوي دواړه پښتنې دي افغانانې دي نور هم ډېر بې شماره خصوصیات لرې دا خو د ( مفتون ) څو تشبیهانې دي

اې ربه د ستا په نعمتونو کې سترګې څومره ډېرې قدردانې دي

۱۳۸۸ لره پښتونخوا

آ ، ی

ګراني زه دې یم بورا، ته شګفته ئې زه پتنګ یم
پروانه ته مې ډیوه ئې

زه د عشق د نوې لارې لاروی یم ته مې ښکلې
همسفره اراده ئې

په ما اوس دی د ځوانۍ سپرلی راغلی ته تیاره
غوړېدلې باغیچه ئې

ستا په یو نظر کتو هوا یې کېږم ګرانې ډېره عجیبه
غوندې نېشه ئې

زه د مینې نابلده لامبوزن یم ته د حسن د دریاب تنده
خپه ئې

زه په نوې ځوانۍ مست نوی زلمی یم ته د مېو
مستانه ډکه پیاله یې

چې تا ښکل کړم نو د زړه غوټۍ مې ګل شي د سپرلي د سهارګي مسته وړمه ئې

د نظر بوراګان تا راځنې غواړي د ښائېست د باغیچې یوه غونچه ئې

ته زما د زړه د مړاوي ګل د پاسه ږېر په ناز د خوشبو یې غوندې خوره ئې

خیال او ذهن، زړه مې ټول تاته په ځیر دي یوه ښکلې نازولې تماشه ئې

ستا نامه زما د ژبې مشغولا ده ګرانې ته زما د مینې ترانه ئې

تا به زه سینګاروم پخپلو وینو دومره ږېره راته ګرانه یې خوره ئې

هغه ورځ به له قیامته کمه نه وي چې ته کله مروره
یې خفه ئې

خطرونو ته چې خاندم ستا خاطر دی ته زما د ژوند
ارزو او خاطره ئې

ستا بېلتون راته ځپېړه د مرګي ده ګرانې ته مې د
زړګي یوه ټکړه ئې

زما سر او مال په تا باندې قربان دي ګوره ته مې د
سپېځلي عشق کعبه ئې

په فطرت کې دي غرور د افغانیت دی په ښکاره که
عاجزي لرې ساده ئې

بیا کچکول په غاړه ګرځې ځوانان غواړې بیا غریبه
شوې او ملنګانه ئې

خو هېڅ وخت چې نا امېده غوندې نشې مونږ د ستا
یو ته زمونږ د ننګ شمله ئې

آزادۍ ( مفتون ) طالب به دې بېولۍ وړې ته مېراث د
پښتنو یې پښتنه ئې

۱۳۸۷ مسته خاموشي ته چې لاړې تسلي دې رانه
یوړه غم دې پرېښود خوشالي دې رانه یوړه نا امېده
دې د للمې ګل په څېر کړم سمه نیمه زندګي دې رانه
یوړه جنګ د سترګو او په زړونو کې چاودنې هغه
مسته خاموشي دې رانه یوړه د بېلتون طوفان دې
دومره زوروړ وو مات رامات دې کړم مستي دې رانه
یوړه دومره کبر خو څوک نه کوي ملګریه ځواني
مرګ مه شې ځواني دې رانه یوړه سم سهي دې (
غرق و پرق ) کړمه جانانه رنځ دې راوړو دوائي دې
رانه یوړه

اچین عدلخېل ۱۳۸۷

خو ښه مې خوښه ده دوستي خو، بې وسي ده هم
مې زړه غوارې مستي خو، بې وسي ده درنه غونډ به
لوګی شوی وم جانانه خوي لرم د سپېلني خو، بې
وسي ده کرکه مه کوه انسان یم کبرجنه ستا نه ښه
لرم ځواني خو، بې وسي ده دا پردی وطن پردۍ
سپورې خبرې دا مې کله زړه مني خو، بې وسي ده په
دې خړو خاورو خړ د چا خوښیږي دغه ګل ګل اننګي
خو، بې وسي ده د بدرنګو نوکران مې پېرزو نه دي دا
ښاپېسته ښاپېسته زلمي خو، بې وسي ده غم او درد
او بل وطن کې مزه نه کا دا نیمګړې زندګي خو، بې

وسي ده رانه هېر نه دي مدام راته یادېږي د وطن
ماذيګري خو، بې وسي ده نادیده او بې وفا نه يم
ملګرو ښه پوهېږم په هرشي خو، بې وسي ده له
خپل ځانه راته ډېر ګران دي ( مفتونه ) دا سپېڅلي
لېوني خو، بې وسي ده

۱۳۸۲ كڅ خوږ عنوان څومره ښکلی خوږ دوران وې
ماشومتوبه بې پراو له ټول جهان وې ماشومتوبه
خړو خاورو او ګردونو کې به خوښ وې رنګينېو سره
وران وې ماشومتوبه د بې شماره خزانونو په لمن کې
خو ته ګل د ګل په شان وې ماشومتوبه تا کې یو ذره
اثر د نفرت نه وو ته په هر چا باندې ګران وې
ماشومتوبه په هر لفظ کې سل خونده خوندي وو په
ګونګۍ ژبه ګویان وې ماشومتوبه هر انداز به دې د
مينې ښېل جهان وو څه هوښيار غوندې نادان وې
ماشومتوبه په ټول چم به د چوپتيا پرده خوره وه
چې به هر کله پرېشان وې ماشومتوبه لا تر اوسه مې

د زړه کتاب کې لیک دی عجیبه ښایسته دا ستان وې ماشومتوبه بس چې لاړې پسې لاړې پسې ورک شوې خوب وې خیال وې که ارمان وې ماشومتوبه د ( مفتون ) د ژوند له درده ډک مضمون ته یو ډېر خوږ غوندې عنوان وې ماشومتوبه

۱۳۸۲ کڅ مکاره د مظلوم ولس خونخواره خبر دې نشته د وخت لویه خطا کاره خبر دې نشته

در پسې د دین په مینه مست ځوانان دي په کفري نېشه خماره خبر دې نشته مجاهد دې د علاج پسې ګرځبیږي د ډالر پسې بیماره خبر دې نشته

دا د ګل په شان ځواني مې وقف کړې د مظلوم د سترګو خاره خبر دې نشته د ذرې ذرې حساب درځنې اخلم منډې مه وهه غداره خبر دې نشته

د تقویٰ زغره لرم د ایمان توره اې کافره ګناه ګاره
خبر دې نشته افغانان د حق په غرړ را پاڅېدلي
مرداربړې به اغیاره خبر دې نشته

دلته مست مجاهدین ځوانان وسیږي د وطن په هره
لاره خبر دې نشته په ( مفتون ) باندې منترې اثر نه
کا راګېرې به مکاره خبر دې نشته

۱۳۸۷

د غلۀ ملګري

ضرور به تښتي سور کافر او د هغه ملګري دغه زېړ
سترګي غلامان دغه د غلۀ ملګري د اسلامیت او
افغانیت جامه کې پېټ غداران سره شرمیږي به یو
ځای غبټ او واړه ملګري د مظلومانو وینې څښې او
توبې هم وباسي دا په حرامو عادت شوي د لیوۀ
ملګري یو نیم خبیث چې روپۍ وګوري نېشه غوندې

شي ترخۀ را خپل کا او خفه کاندي خوارۀ ملګري د
کلک ایمان او د پاخۀ عزم ملګري غوارم پکار مې نه
دي مذبذب او وراسته ملګري د وخت مهدي ته
ټینګېدی نشې مخ توري به ځي دا دجال پسې روان
راندۀ کاڼۀ ملګري په کومو سترګو به مخ کیږي د الله
پاک سره دا په دنیا کې د شېطان سره پاخۀ ملګري دا
د حق لاره عجیبه سپېڅلی چاڼ غوندې دی چې
بېلوي سره مدام سم او کاږۀ ملګري ( مفتونه ) دا وو
د زمونږه مظلومانو ازار چې حق نه څومره پټېدۀ
وشرمېدۀ ملګري

همدغو ته ډالۍ ۱۳۸۸ ډېر کم دي خاوندان د کلک
ایمان ډېر کم دي په خپل وطن قربان ځوانان ډېر کم
دي هجرا رنګي هجرا خویه دي بې شماره خو په
اصل کې نران ځوانان ډېر کم دي بې غېرته خو په یو
روپۍ درځن ده ننګیالي او غېرتیان ځوانان ډېر کم
دي چې ضمیر یې غلامي غواړي ډېر زیات دي د آزاد

زړه خاوندان ځوانان ډېر کم دي د کافرو غلامان دي بې حسابه خو کافرو سره وران ځوانان ډېر کم دي ګیدړانو باندې ډک تمام جهان دی هغه سرې سترګې زمریان ځوانان ډېر کم دي نن زیاتره د ډالرو بندګان دي حقیقت کې مؤمنان ځوانان ډېر کم دي وطن فروش خو دومره ډېر کله مچان دي وطن پاله افغانان ځوانان ډېر کم دي ښځینه ۇ باندې ډک دي بازارونه په رښتیا چې دي ځوانان ځوانان ډېر کم دي مزدوران د یرغلګرو په لکو، دي مجاهد قهرمانان ځوانان ډېر کم دي نن به سپین ببرغ په سپینه ماښې هسک وو ( ننګرهار ۱۳۸۳ ) خو افسوس چې طالبان ځوانان ډېر کم دي

حقیقت

مست پسرلی یمه خزان مې قدر نه پېژني هوښیار مې ستائیي جاهلان مې قدرنه پېژني

زه داسې ګل یم چې مئین دي بوراګان راباندې خو دا نازولي ګونګټان مې قدرنه پېژني

ښکلو ته ښکلو صفتونو ښکلی کړی یمه دا بدرنګ مخي لعنتیان مې قدرنه پېژني

پاک مجاهد یمه په پاکو خلکو ښه لګېږم پېسه پرست او غله ډاکوان مې قدرنه پېژني

اصلي افغان یم مست احساس د خپلواکۍ لرمه دا چاپلوسان او غلامان مې قدرنه پېژني

په دین مئین تکړه ځوانان راسره مینه کوي خوا دا بې ننګه هجړا ګان مې قدرنه پېژني

د غېرت منو سره کلکه ورورولي لرمه دا بې غېرته بې وجدان مې قدرنه پېژني

شکر په دي چې په نېکانو خلکو ګران یمه زه
ګناهګاران او خبیثان مې قدرنه پېژني

زه د شهید په پلۀ روان یم انتقام یې اخلم دا بې
ایمانه غداران مې قدرنه پېژني

دا ګېډه غېپ حرام خواره او دغه وږي تږي په انساني
رنګ کې لېوان مې قدرنه پېژني

زه د زمري او د شاهین په شان صفات لرمه دا ګیدړان
او تپوسان مې قدرنه پېژني

زه به تر مرګه ملګرتیا د حق پرستو کوم که مړ کوي
مې که جهان مې قدرنه پېژني

نور هېڅ خبره نشته وږي دي ړانده غوندې دي چې
بعضې بعضې غمازان مې قدرنه پېژني

( مفتونه ) زه د مظلومانو غم کې غرق و پرق یم د وخت بچي او غافلان مې قدرنه پېژني

۱۳۸۷ ارمان زما زړ‌ه سترګې او ځانه مجاهده ځارشم ځارشمه لتانه مجاهده ټول کفري جهان ته سترګو کې اغزی ئې اې د ګل په شانته ځوانه مجاهده قدمونه به دې ښکل کړمه په سترګو د سنګر سترېه ستومانه مجاهده ستا په سپین مخ د جهاد د لار ګردونو زړګی وری دی له مانه مجاهده په وحشي کفري زندان مې پیرزونه یې نازولیه طالبه جانه مجاهده بس همدا ارمان لرمه چې قربان شم زه ( مفتون ) ستا له ارمان مجاهده

۱۳۸۶ طاهر اخطار هستوګنځی

طالبه ګرانه ستا له شانه صدقه شه طالبه جانه ټول
جهان دې ته نذرانه شه طالبه جانه

چې قرآن عظیم الشان دې پکې ځای کړو آفرین دې
په سینه شه طالبه جانه دې نا اهلو ته د جهل په
تورتم کې د علمیت پسینه بېوه شه طالبه جانه

چې حالا تو دردولي سترې کړي هغو زړونو ته دمه
شه طالبه جانه د غرور دنګ محلونه رانسکور کړه
قهرېدلې زلزله شه طالبه جانه

سره غلیم نه انتقام د ورونو واخله د جهاد پاکه جذبه
شه طالبه جانه یو ځل بیا د ایوبي تاریخ ژوندی کړه

پاکه کلکه اراده شه طالبه جانه

فرعونیان د وخت لښکرو سره غرق کړه د نیل مسته
شان چپه شه طالبه جانه په ( مفتون ) ګرانه جهان
کې لمبې مرې کړه د باران تونده شېبه شه طالبه جانه

۱۳۸٤

نشته

ستړې ستړې زندګي ده سکون نشته ترخې شپې دي
هغه مست سباوون نشته

شاګردان د انقلاب د مدرسې یو بې له جنګه پکې بل
یو مضمون نشته

ګام په ګام دي هدیرې او زندانونه د پخوا په شان
مزه د ژوندون نشته

هجرانونه دي یاران سره جدا دي په قرار زړګي وصال
د پرون نشته

انقلاب دی په لوی رب باندې یې سپاره داسې مه
وایه چې ورک دی ( مفتون ) نشته

۱۳۸۷ د مینې مکتب هر خواړه کا د ترخهٔ ترجماني
مرګ کوي د ژوندانهٔ ترجماني

هر بېګا هر یو سبا ته آئینه ده د ځوانۍ کوي زاړهٔ
ترجماني

هر نا شکره ته د رب د نعمتونو هر ساعت کوي ړاندهٔ
ترجماني

د جهاد شبګیر کې خوند د جنت شته دی دغه رنګ دې کا لېمۀ ترجماني

انقلاب د فرهنګ ژبه داسې پرې کړه چې د باز کوي کارغۀ ترجماني

ستا په سترګو کې د ګل په اثر کاندي دا اغزي اغزي باڼۀ ترجماني

ما د مينې مکتب هم څو، کاله لوستی

| |
|---|
| اوس کوی شم څه نا څۀ ترجماني |

( مفتون ) هسې په ظاهره خوشال ښکاري اسویلی يې کا د زړۀ ترجماني

۱۳۸۳ پښتنه پېغله کلی، کور، بام او بلۍ ده که ګودر دی دا هر یو د پښتنې پېغلې سنګر دی که ئې لور، که

یې منګی، که تبرګی دی هم یې توره، هم یې ډال دی
هم خنجر دی استعمال د دنداسو او د نکریزو دا یې
بډول سینګار نه دا یې هنر دی دا په غاړه غاړکۍ
پېزوان په پوزه ښکاري خوي یې د زمري دی زورور
دی بنګړي ځکه ګرځوي په مړوندو کې مجاهده ده
زندان ته یې نظر دی برند، کتل، هئېبتي غړ مزل د
آسپې هر انداز یې هر بد سترګي ته خطر دی په
ښائېست کې د جنت د حورو خور ده بلکې څو وار
یې مقام ترېنه بهتر دی لکه لمنځه ده د کلک عزم
خاونده طوفانونو کې وسیړي ځای یې غر دی تور
ټیکری تورې جامې له حیأ ډکه رب ورکړی د کعبې
غوندې اثر دی هغه وخت کې به جنګه وي راغلې که
چا اووېئل چې سور شال یې په سر دی په غېرت یې
افتخار کوؤ ( مفتونه ) ۱۳۸۸ د افغان جنګي تاریخ
پرې منور دی

پېل و پای

د یو ورک منزل له لورې سترګې پټې بدن لوڅ او پښې تورې سترګې پټې دې نېمګړې غبږ ته راغلم یو نظر ته بیا مې بېرته کړلې نورې سترګې پټې د یو ښکلي نا اشنا منزل په لورې بیا روان یم ته مې ګورې سترګې پټې

•

▪

▪

زه

یو کمزوری غوندې څلی یم د خاورو د ژوندون په دې فاني غبږ کې ولاړ یم

هر ساعت مې خطره د نړېدلو د اجل په طوفاني غبږ کې ولاړ یم

•

- 
- 

لېونۍ ځوانۍ هغه يو څو زمونږ د کلي زلمي آ د زمرو په شان غښتلي زلمي چينارونو په شان دنګې ځوانۍ آ د ګلونو غوندې ښکلي زلمي

ور سره وو د جهادونو احساس

| |
|---|
| د مظلومانو د دردونو احساس |

د يتيمانو فرياد ورکړو ورته د انقلاب او د جنګونو احساس

اور يې شو بل د انتقام زړونو کې نور يې ځای نه وو د ارام زړونو کې

ډېر په جذبه باندې وتلی زلمي آ دګلونو غوندې ښکلي زلمي

اوس مو د کلي آ خوندونه نشته د شازلمېو محفلونه نشته خشکې غرمې دي او سارړه ماښامي اوس هغه مست ماذيګرونه نشته نشته د کلي د اختر خوندونه نه د حجرو، نه د ګودر خوندونه

ټول د سنګر په لورې تللي زلمي آ د ګلونو غوندې ښکلي زلمي

يو نيم پخپله تر کالۀ رازي د چا احوال د ژوندانۀ راځي د چا خبر د شهادت راشي د چا خو هېڅ معلومات نۀ رازي

څوک خشکو دښتو او په غرونو کې دي ځينې زخميان په روغتونونو کې دي څوک زندانونو کې ترلي زلمي آ د ګلونو غوندې ښکلي زلمي

دېرې پېغلو تې يې په طمع ناستې په انتظار دکې له غمه ناستې ورنه جدا د ژوندانۀ ملګري زخمي په

زړونو بې مرهمه ناستې

چاته خاوند او چاته ورور یادیږي چاته د دوارو
سترګو تور یادیږي خیال کې یې ګرځي نازولي زلمي آ
د ګلونو غوندې ښکلي زلمي

وینې یې توی کړې انقلاب یې راوست په دښمنانو
لوی عذاب یې راوست د خزانونو خاتمه یې وکړه
مست پسرلی ګلاب ګلاب یې راوست

حالات به نوي شان رنګونه راوړي غرونه او دښتې به
ګلونه راوړي مونږ لکه تخم پرې شیندلي زلمي آ د
ګلونو غوندې ښکلي زلمي

ترې دردونکي یادګارونه پاتې سوري پټکي سره
څادرونه پاتې چا نه ټوپک او کمر بند پاتی دی چا نه
قلم او کتابونه پاتې

د چا یادګار وصیت نامه پاتې ده چانه تسبې او دسمالونه پاتې

څوک یې تسل په یادګارونو کوي څوک یې د ژوند انتظارونه کوي چاته خوبونو کې ورغلي زلمي آ د ګلونو غوندې ښکلي زلمي

ور یې کړې مستې قربانۍ لېونۍ دین ته یې وقف کړې ځوانۍ لېونۍ سرو سرو اورونو ته ورغاړې وتل دي لېونو کړله نرۍ لېونۍ

دوي کارنامې د ورکېدلونه دی ( مفتونه ) هېڅ د هېریدلو نه دي تا خو پخپله وو لیدلي زلمي آ د ګلونو غوندې ښکلي زلمي

۱۳۸۸

هم بادشاه او هم ملنګ وو چې د ننګ او غېرت غر وو یو غازي مجاهد ځوان وو دا سپېڅلی ګران شهید

خو دادالله اصلي افغان وو یو متماز، سرباز طالب د انقلاب د مدرسې وو فراغت د شهادت یې په زړګي باندې ارمان وو ټول ژوندون یې د دردمنو حادثاتو یو کتاب وو هر یو باب پکې جنګ وو خو جهاد پکې عنوان وو هر پاڅون او هر خوځښت یې وو د نوي بدلون زېری هر غورځنګ یې اسلامي وو هر ډګر کې به کامران وو توکل یې په الله وو د قوي عزم خاوند وو زورورو ته سرزور وو او فاتح د هر مېدان وو چې به کله هم د حق او د باطل مقابله شوه بې پروا له مال او ځان وو خو په حق باندې قربان وو سر لښکروو د سر تېرو مجاهدو طالبانو د تحریک د پګړې ګل وو ویاړ د ټول افغانستان وو دښتو غرو کې وسېدلو جهانګیر خیال ورسره وو هم بادشاه وو هم ملنګ وو عجیبه غوندې انسان وو چاته خوږ لکه ګبین وو چاته تریخ ذهر قاتل وو چا ته ګل چاته اغزی چاته نسیم چاته طوفان وو زړه وژونکو زمري رنګو هېبتي سترګو نظر یې بد نظرو ګیدړ خویه ته

سم تندر د اسمان وو د عجيب خصلت خاوند وو
ورته فکر حېرانيږي هم پخپله پسرلی وو هم خزان
لره خزان وو د ( مفتون ) زخمي زړګي ته مړاوي
مړاوي ستړي ژوند ته يو ټکور وو يو ژوندون وو يو
سکون او اطمينان وو

خوږه بهانه

دا چې هره ورځې زۀ درسره خاندم ته پوهېږې چې
په څۀ درسره خاندم

هر انداز دې راته خوږ لکه ګبين دی ځکه ډېر خواږۀ
خواږۀ درسره خاندم

ستا په مينه کې څه ببل شانته اثر دی زړه مې ژاړي
خو په خولۀ درسره خاندم

د چا سترګو ته به ګورمه پښتون يم چا له غمه به ډېر
ښه درسره خاندم

د نظر ګزار دي زړه راته مات کړی ځکه داسې په مات زړۀ درسره خاندم

داسې ووايه چې شونډې مې زخمي دي داسې مه وايه چې نۀ درسره خاندم

زه هم ستا غونډې مفتون يمه ( مفتونه ) چې په خيرې ګرېوانۀ درسره خاندم

۱۳۸۲ چېرته کېږي ژوند دمستۍ نه بغېر چېرته کېږي د محتاجۍ نه بغېر چېرته کېږي

رسېدل هغه ښايېسته منزل ته

ستا د دوستۍ نه بغېر چېرته کېږي

د مسلمان افغان سوچه زندګي د ازادۍ نه بغېر چېرته کېږي

د هر اصلي پښتون اصلي تعارف ړیرې پګړۍ نه بغېر
چېرته کېږي

په سپینو تورو کې طلب د حورو د طالبۍ نه بغېر
چېرته کېږي

داد کافرو شرمنده بندګي د نېکټایۍ نه بغېر چېرته
کېږي

ټولې دنیا ته د خپل ځان شرمول قراقوولۍ نه بغېر
چېرته کېږي

دا ډالرو شېطاني شوقونه د غلامۍ نه بغېر چېرته
کېږي

د امرېکا د محفلونو مزې د چاپلوسۍ نه بغېر چېرته
کېږي

پېژندګلي د بې غېرته پښتون د موسيقۍ نه بغېر
چېرته کېږي

د ډرامو زامن نارې وهي چې دېموکراسۍ نه بغېر
چېرته کېږي

خېټه پرست خلک تل داسې وائي چې د ډوډۍ نه
بغېر چېرته کېږي

هر خبره په ښائېسته الفاظو د شاعرۍ نه بغېر چېرته
کېږي

له بادشاهانو نه قلنګ ( مفتونه ) د ملنګۍ نه بغېر
چېرته کېږي

۱۳۸۸ سترېيا د کال شبګير يم لړ مې خوب ته پرېږده
دلګير دلګير يم لړ مې خوب ته پرېږده

وخته څه وخت خو ذهيريږه پر ما ډېر زيات زهير يم
لړ مې خوب ته پرېږده

دنيا پرست نه يم ظالم نه يمه د خدای فقير يم لړ مې
خوب ته پرېږده

که ته مې پير يې دعاګانې کوه که زه دې پير يم لړ
مې خوب ته پرېږده

ناترسه ژونده زره دې نه يخيږي مرګ ته نسکير يم لړ
مې خوب ته پرېږده

د شهيدانو له وطنه راغلم ستړی په وير يم لړ مې
خوب ته پرېږده

زه خو دې هسې هم د زلفو دام کې اشنا اسير يم لړ
مې خوب ته پرېږده

وحشته چرته به ( مفتون ) لاړ شمه بند په ځنځیر یم
لږ مې خوب ته پرېږده

د یو سفر دوران ۱۳۸۰ د مظلوم اه

چې په مخ باران د ترمو اوښکو سلامي کوي جهان د
ترمو اوښکو

چې شپبه شپبه راتوي په شنه روضه شي بس همدا
مې دی ارمان د ترمو اوښکو

یو اثر د جنتي ښائېست ښکارېږي دا چاپونه په
ګرېوان د ترمو اوښکو

د ګلاب غوندې پرهر پرهر زړه غوارې تویول نه دي
اسان د ترمو اوښکو

د کونېنو کائېنات یې ندارنه دي د یو څاځکي د جانان
د ترمو اوښکو

د هر څاڅکي په بدل کې يې جنت دی ګوره دومره
دی لوړ شان د ترمو اوښکو

د مظلوم،آه ته چې سپک ګوري ( مفتونه ) هغه وړي
دي طوفان د ترمو اوښکو

۱۳۸۳ وخت او بخت چې په کوم وخت راسره بخت
اډيوالي پرېښوده راسره سمه تاج او تخت انډيوالي
پرېښوده چې وخت مې واچولې ښپو ته د غربت
زولنۍ يا خو د غرضه په زړه سخت انډيوالي
پرېښوده چې ستا غمونو مې په زړه باندې يرغل
وکړلو خوب رانه وتښتېد بالخت انډيوالي پرېښوده
په نيمه لار يې ارمانجن اجل ته لاس کې ورکړم ما
سره بېر بې وخته وخت انډيوالي پرېښوده

ټوټه د رب حکم وو له خاورو راپېدا شوم لکه ګل
نيمګړي ژوند ته په خندا شوم

خو تر پایه مې د ژوند سپرلی مل نه شو ارمانجن
ترېنه په نیمه لار جدا شوم

ډېر ناڅاپه د اجل خزان، خزان کړم دا دی بېرته خړو
خاورو کې فناه شوم

- 
  - 
  - 
  - 

ټوټه

ډېر ښایسته لکه غمی ومه یو وختې د زړه باغ ته
پسرلی ومه یو وختې

ګل ځواني مې وه خاني بادشاهي وه د هر چا لکه
زړګی ومه یو وختې

اوس مې دغه خړې پړې قبر کې چينجي خوري زه هم
ستا غوندې زلمی ومه يو وختې

دوا

وينه مې تېل نن مې ډيوه کړې چې رڼا اووېشم
اوښکې باران خوي مې سپرلی کړې چې ښکلا
اووېشم آه مې نسيم کړې دغو مړاوو غوټېو شونډو
لره چې په ژړغونو هېواد والو مې خندا اووېشم زړه
مې هېنداره کړې چې هر څوک پکې ځان وګوري د
دين طالب مې کړې چې مينه او وفا اووېشم ژبه مې
شهد کړې او خيال مې سپين طبيب کړې خدايه چې
په پرهر وطن باندې دوا اووېشم

•

▪

▪

لټون

نن که دې ښکليه په ګل پاڼو کې تصوير لټوم بيا به
دې سپينو سپينو کاڼو کې تصوير لټوم

فطرت يو بل سره هېلمند او په خېبر اوويشتو اوس
د کوچي جانان په زاڼو کې تصوير لټوم

شپونکی جانان زمونږ دغره نه انقلاب وړی دی اوس
يې ګورګورو او ممانو کې تصوير لټوم

حالا تو دومره ډېر اوتر کړمه ( مفتونه ) ګرانه چې د
نښترو په بوګيانو کې تصوير لټوم

حيات په لاره ۱۳۸۳

ټوټه څوک ملنګ د زمانې دی څوک بادشاه دی د چا

بار ده جنازه څوک په خندا دی

مدام نه کوي یاري د سرو ګلونو د ژوندون پسرلی دومره بې وفا دی

جذبه

تل پرې اوښکې تویوي زړه یې صفا دی ډېر دردمن دی محبت یې په رښتیا دی

هغه مسته زندګي د فردوس غواړي په دعا یې لاس نیولي په ژړا دی

نه ساده دی نه ( مفتونه ) ژوند کې تنګ دی ورته حورې اشارې کا وارخطا دی

•

▪

▪

نیمګړی دوران

که ځان ځان بولې نو ځان به درنه لاړشي لوی شرف
د لوی انسان به درنه لاړ شي

په دې ټیټ ځان چې ځان لوړ ګڼې انسانه انسانیت
دغه لوړ شان به درنه لاړ شي

چې د ځان غوندې انسان ته کوې طمع څه به درنه کا
ایمان به درنه لاړ شي

په امېد، امېد امېد به دې شي ختم خو شپې ژوند
ددې جهان به درنه لاړ شي

بیا به وروسته مرورې لاس خو وخت به تېر وي دا
نیمګړی شان دوران به درنه لاړ شي

که دې دغه شان عمل وي مسلمانه د اسمان په لور قرآن به درنه لاړ شي

په ( مفتون ) دومره زر مه تنګېږه ژونده دا د څو ورځو مهمان به درنه لاړ شي

۱۳۸۳ شدیاره زندګي د دنیا څه خوار وزاره زندګي ده ډېره ستړې ناقراره زندګي ده د چا غم ژړا، غربت ته نظر نه کا ځي تېرېږي خود مختار زندګي ده بس طبیب یې دی مرګی دارو یې خاورې د حرص په رنځ بیماره زندګي ده هېڅ اثر په کې د مینې د خوند نشته تل مرګي ته انتظاره زندګي ده څوک به څنګه د سکون ساه پکې واخلي د اجل خوله کې ایساره زندګي ده ارمانونه پکې ځکه خاورې کیږي چې د مرګ په سخته لاره زندګي ده ارمانجن به دې رخصت کا پټې سترګې ناز پرې مکړه نا اعتباره زندګي ده ته غافل لا په دې راز پوه شوی نه یې رب در کړې څه لپاره زندګي ده کر پرې وکړه د نېکۍ باران د اوښکو

زرغونه يې کړه شدياره زندګي ده هغه کله په مفهوم
د ژوند پوهيږي چې هر چا کړې بې ياره زندګي ده
چې د مينې په نوم نه وي په دار شوي د هغوي
څومره بېکاره زندګي ده اې ( مفتونه ) چې دې
خوښه ملنګي کړه په نصيب کې دې سرداره زندګي
ده ١٣٨٢

فاني دنيا

لرې ترېنه تښته محبت يې دېواني ده دا دنيافاني ده
مينه د فاني دنيا عظيمه ناداني ده دا دنيافاني ده

څوک چې د دنيا خبيثه مينه کې راګېر شي رب
ورځنې هېر شي نه ګوري حلال حرام حرص يې
دومره ډېر شي رب ورځنې هېرشي خوښ به يې
دولت وي دا يې لويه نشاني ده دا دنيافاني ده

مینه د دنیا نه اتفاق نه شریک کور مني نه دي پلار او
مور مني نه حقوق د خلکو نه حقوق د خور او
ورورمني نه دي پلار او مور مني هسې یوه توره شپه
ظالمه زندانې ده دا دنیافاني ده

دغه په دنیا مئین نه عقل نه شعور لري صرف یو
غرور لري نه خیال په خوارانو نه څه قدر د مزدور
لري صرف یو غرور لري هر غریب سوالګري ته کنځل
یې قرباني ده دا دنیافاني ده

لس روپو خبره وې اوکړې پرې لس قسمه دوي مرګ
نه وي بې غمه دوي تله هم د خپلې اندازې نه ساتي
کمه دوي مرګ نه وي بې غمه دوي نن سبا د خلکو
بس همدا مسلماني ده دا دنیافاني ده

ږيره دې شوه سپينه د دنيا حرص دې سوړ نشو وړی
زړه دې موړ نشو نيت، مرام، قدم، خيال دې د دين په
لاره جوړ نشو وړی زړه دې موړ نشو ستا په حال
غافله ډېر افسوس او حېراني ده دا دنيافاني ده

ډېر دا ستا په شانته مرګي يوړل کبرجن خلک ښه يې
کړل غمجن خلک دا په مال دولت او اولاد باندې مئين
خلک ښه يې کړل غمجن خلک پاتې يې جائېداد،
بنګلې د دوه ورځو فاني ده دا دنيافاني ده

ګوره غافل نشې درته مخکې سختې لارې دي ځای
دې تورې خاورې دي وائي چې ظالمو کبرجنو برخې
خوارې دي ځای دې تورې خاورې دي بيا دې پس له
مرګه په دې ژوند پښېمانی ده دا دنيافاني ده

راشه فائېده واخله له دې دوه ورځې ژوندونه ته وه
ګرانه ( مفتونه ) ته راوله په ځان کې د خواره نبي

خویونه ته وه ګرانه (مفتونه ) ته هسې دي هم ګوره
د چینجو خوراک ځواني ده دا دنیافاني ده

خاورې به شې لږ د خدای نه کوه ډار خاورې به شې
ډېر مغرور مه ځه په لار خاورې به شې عاجزي کوه
ځان خاورې خاورې بوله که هر څو يې ګل رخسار
خاورې به شې اې د خړو خاورو جوړ عاجز انسانه
دومره مه کوه سینګار خاورې به شې د رب ښکلي
بندګان چې ازار نکړې درته وبه کړي ازار خاورې به
شې څومره ښکلی تن وجود الله در کړی ګوره زرشه
توبه ګار خاورې به شې دا دنیا یوه کشتۍ د مسافر
ده بس د مرګ کړه انتظار خاورې به شې دا رنګینه
زندګي به دې تالا شي د مرګي په سخت ګزار خاورې
به شې ګل ځواني به دې د قبر چینجي وخوري
ځوانه تېر به دې شي وار خاورې به شې د لحد په
تنګه غیږه کې به ګېر شې شې په خاورو کې به شمار

خاورې به شي اې ( مفتونه ) دا نيمګړې ژوند به تير
شي که غريب يې که سردار خاورې به شې غوښتنه

ربه دومره توان خو را کړې ما ناتوان ته چې د حج په
نيت شم لاړ عربستان ته

چې ستاپاک حرم کې سر په سجده شم ګناهګار يم
چې بخشش وغوارم ځان ته

بيا مې ستا لو وېرې اوښکې په مخ راشي د سېلاب
غوندې ريښې ريښې ګرېوان ته

بيا سر تور سر او ښپې يېلې ښپې روان شم هغې
ښکلې مدينې فخر جهان ته

د حضور زيارت په مينه مينه وکړم نوراني سپېځلی
آب ورکړم چشمان ته

په امېد د شفاعت زه ګناهګار بیا ږېر په چیغو چیغو
وژاړم جانان ته

بیا همدغه حال کې وغواړم د رب نه د جهاد جذبه
غافله مسلمان ته

هم دعا د خلاصون وکړمه په زوره مقبوضه او غروق
پرق افغانستان ته

۱۳۸۵

دعا

طبیعت فقیرانه زړه شاهانه را خدایه ژوند د بې غمۍ
ملنګانه را

نظر فراخ اروا مړه راکړه خاونده خوي خصلت
پېغمبري عاجزانه را

چې مې تل ربه د ستا رضا هدف وي داسې ښکلی صفا نیت مخلصانه را

سامعان کړې غوږونه د کلام ستا ژبه خوله هم ثنأ ګو صادقانه را

پوزه هم د حقیقي خوشبو لپاره دماغ ربه د علمونو خزانه را

دې بدرنګې زندګۍ نه مې زړه موړ کړه امېدونه د جنت عالیشانه را

پر قیامت چې ملامته درته نشم ټول بدن د ستا په لار کې نذرانه را

چې تاریخ د صحابه ؤ را ژوندی کړم د جهاد جذبه سپېڅلې مستانه را

چې جهان رانه د مينې الهام واخلي هر انداز را لره
خوږ عاشقانه را

چې دا خاورې زندګي راته سره زر شي د نېکانو
بندګانو او دوستانه را

را کوي چې سپور نظر ته آب د مينې ډول ملګري مينه
ناک او صوفيانه را

چې همدرد د پنجره بند مرغانو هم شم ضمير دغه
شان دردمن ازادانه را

لوی ارمان د شهادت راته پوره کړه د حمزه سينه د
غشو نشانه را

چې د زړه خبره زړه ته په حکمت ورېم ما ( مفتون )
ته ربه خيال شاعرانه را

۱۳۸۲ تمت بالخير

Retrieved from
"https://incubator.wikimedia.org/w/index.php?title=Wb/ps/دار_ته_هرکلی&oldid=1412854"

Last edited 6 years ago by Midnight Gambler

Content is available under CC BY-SA 3.0 unless otherwise noted.